# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۵۸) ګڼه / شنبه ۲٤ رمضان‌المبارک ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۲٦ حمل ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱۵ اپریل ۲۰۲۳ میلادي


## یوه چینایي کمپنۍ د افغانستان په کانونو کې ۱۰ میلیارده ډالره پانګونه کوي

چینایي کوچیـن کمپنۍ وایي، که د افغانستـان د لیتیم کان کېندنې قرارداد دوی ته وسـپارل شـي ۱۰ میلیارده ډالـره پانګونه په کې کوي او هم په سـالنګ کـې یو بل نوی تونل جوړوي.

د کانونو او پټرولیم وزارت ویلي چې د دغـه وزارت سرپرست د کوچین کمپنۍ له استازي سره په خپل دفتر کې وکتل. سرچینه کاږي د یادې کمپنۍ استازي د کانونو او پټرولیم وزارت له مشـرتابه څخه د افغانستـان د لیتیم په برخه کې د پانګونې غوښـتنه وکـړه او ویې ویـل غواړو چـې د افغانستـان د لیتیم پـه کانونو کـې ۱۰ میلیارده ډالـره پانګونـه وکړو چـې له دې سـره به ۱۲۰ زره تنو ته په مستقیم او تـر یو میلیونه تنـو پورې په غیر مسـتقیم ډول د کار زمینـه برابره شي. سرچینه زیاتوي، دغه چینایي کمپنۍ دغه راز وړاندیز وکړ چې که د لیتیم کان کېندنې قرارداد دوی ته وسپارل شي، دوی به د اوو میاشتو په موده کې د سـالنګ تونل ترمیم کړي او په سـالنګ کې بـه یو بل نوی تونل جوړ کړي.

د بهرنیو چارو وزیر:

## د سمرقند غونډې ګډونوالو په افغانستان کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې



شـریعت: د اسـلامي امـارت د بهرنیو چـارو وزیر مولوي امیرخان متقي د سـمرقند غونډې ته ویلي، د افغانسـتان پـه تړاو د سـیمې د هېوادونو سیاسـتونه بایـد د منفي تبلیغاتـو او مخالفو قدرتونو د لومو ښکار نه شـي، بلکې د خپلو ملي ګټـو او منطقوي امنیـت، ثبات او اقتصادي اتصال له زاویې افغانستان ته وګوري.

د بهرنیو چـارو وزارت مرسـتیال ویاند پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي چې مولوي امیرخان متقي دا څرګندونې د ازبکستان په سـمرقند ښار کې د افغانسـتان د ګاونډیـو هېوادونو په ابتکار څلورمې ناسـتې ته په خپله وینا کې وکړې.

د بهرنیـو چـارو وزیـر وویـل، افغانسـتان چې د منځنۍ اسـیا او جنوبي اسیا په یوه مهمه ستراتیژیکه سـیمه کې موقعیت لـري اوس د یوه مسـوول او متعهد حکومت له واکمنۍ برخمن دی. یـو باثباته او امن افغانسـتان کولی شـي چې د سیمې په امنیت، ثبات او اقتصادي اتصال کې محوري رول ولوبوي. د نوموړي په وینا، ... ۷مخ

## آغاز کار توسعه بخش دوم سرک کوتل خیرخانه



شریعت: کار ساختمان توسعه بخـش دوم سـرک کوتـل خیرخانه روز گذشـته از سوی مـلا عبدالغنی بـرادر آخوند معاون اقتصادی ریاست‌الوزرای امارت اسـلامی افغانستان در حالـی که مولوی عبدالرشـید شـاروال کابل و شمار دیگری از مسوولان نیز حضور داشتند؛ آغاز گردید. ص۷

## د یو کمربند یوې لارې پروژه کې د افغانستان د شاملېدو لپاره هڅې



شریعت: د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر، مولـوي امیرخان متقي پرون د ازبکسـتان په سمرقند ښار کې له خپل چینایي سیال چن ګانګ سره وکتل.

پـه دغه کتنـه کې د افغانسـتان او چین پـر دوه اړخیزو اړیکو، امنیتي مسایلو، اقتصادي همکاریو، سیمه ییز اقتصادي اتصال، ... ۷مخ

د سوداګرۍ او پانګونې خونه:

## د افغانستان په رسمیت نه پېژندل سوداګر له ستونزو سره مخ کړي




د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي، د نړۍوالې ټولنې له لوري د افغانستان په رسمیت نه پېژندل، د سوداګرو او پانګه‌والو فعالیت برخه کې سـترې ننګونې رامنځته کړې دي.

د سوداګرۍ خونې لومړي مرستیال یونـس مومنـد دا څرګندونـې په افغانسـتان کـې د ملګـرو ملتونو اسـتازولۍ (یونامـا) له مشـرې روزا اوتنبایـوا او د یوناما اقتصادي پروګرامونو مسؤولې ... ۷مخ

نمایندگان قوم احمدزی در دیدار با معاون سیاسی:

## برای بقای نظام آماده هرگونه فداکاری استیم




شـریعت: معاون سیاسی ریاست الوزرا در دیدار با شماری از بزرگان قوم احمدزی گفت امارت اسلامی حل مشـکلات مردم را مسوولیت خود میداند.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا ص۷

ملاعبدالغنی برادر:

## تجار ملی در بخش تمویل پروژه‌های بزرگ همکاری نمایند



شریعت: ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء با مسوولین اتاق صنایع و معادن و تجـاران ملی دیدار و در مورد تمویل پروژۀ انتقال لین ۵۰۰ کیلو ولت برق از شـبرغان تا دشت الوان و از آن جا الی ارغندی کابل با ایشان صحبت نمود.

در این دیدار، معاون ... ص۷

نوی سفر د ډیپلوماتیکو اړیکو بیا پیل..! ۲ مخ

د سمرقند غونډه په کومو موضوعاتو راوڅرخېده!؟ ۲ مخ

اهداف جنګ فکری ۳مخ

## آغاز برنامۀ آموزشی معلمان حج درکابل

شـریعت: وزارت ارشاد، حج و اوقاف، برنامه‌ی آموزشی معلمان حجاج را در مجتمع حجاج زون مرکز در کابل، آغاز کرد.

این وزارت با نشـر خبرنامه‌یی گفته است: این برنامه، با حضور معینان آن وزارت آغاز شد.

در خبرنامه آمده اسـت: معلمان حجاج، پس از سپری کردن دوره رقابت آزاد، انتخاب شـده‌اند و در اولین مرحلـه معلمان کابل، پنجشیر، پروان، کاپیسا، دایکندی، بامیان و میدان وردک برای هفت روز آموزش می‌بینند.این برنامه برای تمام معلمان حجاج به طور نوبت وار در مجتمع حجاج زون مرکز برگزار خواهد شد.

## در نشست کمیسیون اداری پیرامون طرح ریفورم شفاخانه جمهوریت بحث صورت گرفت



شریعت: نشسـت کمیسیون اداری به ریاست مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء برگزار گردید.

دفتر مطبوعاتی ریاسـت الوزرا روز گذشـته با نشـر خبرنامه‌یی گفت: در این نشسـت داکتـر قلندر عباد سرپرست وزارت... ص۷

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت:

## ټولټال څه باندې ۶۰۰ زره معلولین، کونډې او یتیمان ثبت شوي دي

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت په ټـول کې هېواد کـې د ۶۱۰ زره معلولینو، کونـډو او یتیمانو د ثبت خبر ورکړی دی.

د دغـه وزارت ویانـد مفتي فیصل خاموش وایـي، چې دغه له وزارت سـره په ټول هېواد کـې تر دې دمه ۶۱۰ زره معلولین، کونډې او یتمیان ثبت دي، چې له منځه یې ۳۴۰ زره یتیمان، ۱۹۰ زره معلولین او۸۰ زره کونډې دي.

خاموش زیاتوي، چې د معلولینو له ډلې ۳۰ زره د تېرې اداري سرتېري او پاتې نور د جګړو پرمهال معلول شوي وګړي شامل دي.

هغـه زیاتـوي، چـې اوسـمهال معلولینو، کونـډو او یتمیانو د ثبت لړۍ بنده شـوې، خـو ډاډ ورکوي، چـې ډېـر ژر بـه دا لـړۍ بېرتـه پیل شي.

سرمقاله

## د سمرقند پرغونډه جدي فکر په کار دی!

تېره ورځ اوزبکسـتان په سـمرقند کې د افغانسـتان او چم ګاونډهېوادونو خارجـه وزیرانو یوې غونډې کوربه و. دافغانسـتان په اړه دیـادو هېوادونو دغه ناسـته د پاکسـتان ، ایران او چین ترغونډو وروسـته څلورم مجلس و چې له نېکه مرغه په لومړي ځل افغانان هم وربلل شـوي او د بهرنیو چارو وزیرښـاغلي متقي ته په کې د وینا کولو موقع ورکړل شـوه ، یقیناًداځکه یو ښـه فرصت و چې له یـوې خوا یاد مجلس کې دچین، روسـیې او زموږ د ټولو ګاونډیانو اسـتازو ګډون درلود اوبـل پلوافغانانو ته هم دا موقع ورکړې شـوه چې خپل حال په خپلـه ژبه ووایي اوخپلې غوښـتنې د پردیو پرځای مسـتقیماً په خپله خوله مطرح کړي، سـربېره پردې اوسنیو حالتو کې زموږ دچـم ګاونډهېوادونو دا ډول مجالس له دې کبله هم مهم دي چې یو خو په ختیځ کې دنوي بلاک اوخپل منځي پیوستون روحیه راټوکېدلې اوبل دا چې زموږ هېواد هم تازه دغرب له شکل کلن اشغاله راخلاص اوله یو داسې ملي حاکمیته برخمن شـوی چې لوېدځوال یې د ځان لپاره د شـرمندګۍ لامل ګڼې او همدا وجه ده چې خپله غوسـه په بندیزونو ، پروپاګندونو اوبې ګټې تحرکاتو سـړوي ، په هرصورت زموږ دسـیمې هېوادونو ناستې بیاهم پرله پسـې رواني او په ګډه داقتصادي اړیکو رغولو تلوسـې څرګندوي ، ښکاره ده چې هغوی ددغه شـان اړیکو اوفعالیتونو دپرمختګ لپاره افغانسـتان ته هماغسـې شـدیده اړتیا لري لکه موږ چې خپله ورته اړیو ،خوله بده مرغه بیاهم له دې واقعیته سـترګې نه شـي پټېدی چـې یادهېوادونو هریو خپلې مجبورۍ لري او حتماً ترڅه حده دغرب دغوښـتنو خیال ساتي .همدا وجه ده چې دوی هـم خپله هره غونډه کې ظاهراًهماغه دلوېدیځوالو شـعارونه تکراري اوپرموږ هم سپارښـتنې کوي ،البته دټولو بهرنیانو په غوښتنو کې بې له شـکه څو داسې ټکي خامخا شـته چې هم خپله زموږ اړتیا او هم د ټول ملت جدي غوښـتنه ده دمثال په ډول د ښـځینه و دتعلیم موضوع چې حل کول یې داسلامی امارت دمشرانو یو شرعی اوملی مکلفیت... ۷مخ

## له کرنې وزارت څخه د بغلان کروندګرو غوښتنه

د بغلان یو شمېر کروندګر وایي، دا چې اوس کوکنـار نه کري، نـو باید دوی ته اصلاح شـوي تخمونه ورکړل شي او د کرنې د میکانیزه کېدو په برخه کې دې ور سره مرسته وشي. په همدې حال کې د بغلان سیمه ییز چارواکي چې په دغه ولایت کې د کوکنارو د کروندو ...۷مخ

## د سترو قراردادونو د څېړنې پلاوي غونډه ترسره شوه

د اوبـو او انـرژۍ وزارت د اوبو په معینیت کـې د سـترو قراردادونو د څېړنې ناسته ترسره شوه.

یاده ناسـته د اوبـو او انرژي وزارت د اوبو معین مجیـب الرحمن عمر آخندزاده تر مشرۍ لاندې د وزارتونو د معینانو او اړوندو ادارو د استازو په ګډون ترسره شوه.

په دې ناسـته کې پـه هلمند کې د کجکي بنـد او په دایکنـدي کې د سـوختک بند پروژې چې د اوبو او انرژۍ وزارت پـوري اړوند دي او د کلیو پراختیا وزارت د یو شمېر پروژو په هکله بحث او څېړې اترې وشوې او تر هر اړخیزو څېړنو وروسته، اړین تصمیمونه ونیول شول. ۷مخ

## د اسلامي همکاریو سازمان یو پلاوی کابل ته راځي



ټاکل شـوې د اسـلامي همکاریو سازمان یو پلاوی کابل ته راشي او د بلابېلو مسـایلو په اړه له اسلامي امارت سره خبرې اترې وکړي.

په افغانسـتان کې د دې سـازمان سفیر وایي، د یاد سازمان... ۷مخ

# نوی سفر د ډیپلوماتیکو اړیکو بیا پیل..!

**لیکنه؛ حمزه الیاس**

افغانستان په منځنۍ آسیا کې د جغرافیې له لحاظه غوره موقعیت لري، افغانستان د آسیا زړه بلل کېږي نو حتما د منځنۍ آسیا سیمې هېوادونه تل د افغانستان په تړاؤ غونډې جوړوي او خپې ډیپلوماتیکې هڅې کوي تر څو د سیمې له دې مهمې جغرافیې سره اړیکې تل نارمل حالت کې وساتي ځکه دوئ پوهېږي که چیرې اړیکې نارمل نه وي نو حتمی به اقتصاد او تجارت کې خنډونه او موانع موجود وي.

د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت استازولۍ له څه باندي څلور میاشتني ځنډ وروسته نن د بهرنیو چارو وزیر م.امیر خان متقي د یو پلاوي په مشرۍ ازبیکستان ته سفر وکړ او هلته یې د سیمې د خارجه وزیرانو په هغه غونډه کې ګډون وکړ چې د افغانستان په تړاؤ جوړه شوې وه، د غونډې په لومړنیو څنډو کې یې د چین او ایران د له بهرنیو چارو وزیرانو سره وکتل او په سیمه کې پر ثبات، اقتصادي راکړې ورکړې او په افغانستان کې پر امنیت خبرې وشوې د سیمې هېوادونو ته به دغسې سفرونه او اسلامي امارت پر ډیپلوماتیکو اړیکو ژور اغېز ولري او خپلمنځۍ اړیکې به لا هم قوي شي او د افغانستان په اړه چې کومې ننګونې دي او منفي افکار دي هغه به حل شي؛ چې دا به پر کې پر تجارت، اقتصاد، اوپر تجارتي راکړه ورکړه به هم مثبت اغېز ولري، ځکه چې د اسلامي امارت سیاست اقتصاد محوره دی، اقتصاد محوره په دې معنا چې اسلامي امارت په دې قائل دی چې هم نورو ته ګټه ورسوي او هم له نورو ګټه پورته کړي، اقتصاد محوره په دې معنا چې افغانستان د آسیا زړه دی په سیمه کې غوره موقعیت لري، اسلامي امارت غواړي چې افغانستان د سیمې د وصل او اقتصاد په مرکز بدل کړي.

او اسلامي امارت به د سیمي هیوادونو مشرانو ته په ډاګه کړي چې د اسلامي امارت سیاست متوازن سیاست دی، ځکه د نړۍ د ټولو هیوادونو سره خصوصاً د سیمې هیوادونو سره مثبتې اړیکې غواړي.

او دا سفر به نورو سفرونو او نورو لاسته راوړو نو ته لاره هواره کړي، زه ددې غونډې جوړولو ته ځکه خوشبین یم چې په دې غونډه کې د منځنۍ آسیا تر ټولو قوي هیواد او په نړۍ کې د اقتصاد له لحاظه یو قوي قوت چین دی، هم ګډون کوي چې دا به له چین سره پر اقتصادي راکړه ورکړه او افغانستان کې پر اقتصادي پروژو، د وربښمو پر لاره او افغانستان پر اقتصادي څلور لارې بحث وکړي چې دا به د افغانستان پر اقتصاد او د افغانۍ پر ثبات ژور او مثبت اغېز ولري.

دا سفر به هغه کنګل مات کړي چې په تېرو څو میاشتو کې رامنځته شوی و او نورو سفرونو ته به لاره هواره کړي او دا زنځېري کړۍ به لا هم پرله پسې دوام ومومي.

اسلامي امارت به په د سیمې هیوادونو ته دا پېغام ورکوی چې موږ د مشترک برخلیک لپاره ککړې هڅې کو او دا هر څه به په ګډه مخې ته وړو. نو دا سفر به پر نېک پالۍ نیسو او د ښو لاسته راوړنو سره به ورته سترګي په لار شو.

# په تاشکند کې د افغانستان په اړه درې مختلفې غونډې تر سره شوې

**عبدالحی قانت**

پرون په تاشکند کې د افغانستان په اړه درې بېلا بېلو فارمټونو کې غونډې تر سره شوې.

لومړۍ غونډه د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر د چین او ایران د بهرنیو چارو وزیرانو سره دوه اړخیزه ناستې وې.

دویمه غونډه د ۷ هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو څلورمه ناسته وه چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر هم پکې د میلمه په حیث ګډون کوه. د دې فارمټ درې مخکینۍ ناستې پاکستان، ایران او چین کې شوې.

دریمه غونډه چې د سیمې د څلورو هیوادونو (پاکستان، ایران، چین او روسیې) غیر رسمي ناسته بلل کېږي، دوهم پړاو یې تر سره شو.

په دې درې واړو مهمو ناستو کې په بېلا بېلو موضوعاتو بحث وشو چې په ترڅ کې یې ځینې کورنۍ وظیفې د سیمې هیوادونو او ځینې افغان حکومت ته وسپارل شوې.

له افغان حکومت څخه وغوښتل شول چې د تروریزم، ښه/ټولشموله حکومتدارۍ، ښځو او نورو اتباعو حقوقو او د مخدره موادو پر ضد مبارزه کې خپلې کړنې لا پیاوړې کړي.

د سیمې هیوادونو دا کورنۍ وظیفه واخیسته چې دوی به افغانستان کې د ثبات، پرمختګ، اقتصادي پیاوړتیا او بشري مرستې لپاره افغان حکومت ته لاس ورکوي او د افغانستان د ملي حاکمیت او ارضي تمامیت پوره احترام سره به افغانستان سره خپلو مثبتو اړیکو ته دوام ورکوي. د سیمې هیوادونو دا پیام هم ورکړ چې د امریکا او د ناټو غړي هیوادونه به دې ته نه پرېږدي چې په سیمه کې امنیتي تأسیسات ولري تر څو د سیمې شریک امنیت وننګوي.

د سیمې اجماع پر دې ده چې د افغانستان یواځینی حل د افغانستان اوسني حکومت سره مثبت تعامل ته ادامه ورکول دي.

# اسلامي امارته! مدیون دې کړو

**امین وردګ**

د انسانانو تابع او رامول څه آسانه خبره نه ده! که یو سړی هر څومره زورور هم وي، خو چې د بل زړه لاسته را نه وړي، نه تابع کېږي.

په پښتو کې متل دی چې وایي: ((انسان تابع د احسان دی)) ګواکې تر څو چې له انسان سره احسان (نیکي) و نه کړې، تر هغې یې زړه هم لاسته نه شی راوړلی.

منو چې ځینې خلک به د زیات زور او ظلم له لارې پر ځینو نورو تر یوه وخته راج و چلوي، مګر تل نه.

په فارسي کې یو شعر دی چې وایي: ((چراغ ظلم تا به سحر نمیسوزد، اگر سوزد شب سوزد شب دیگر نمیسوزد)) شاعر یې نه پېژنم! خو چې هر څوک دی، زه درناوی ورته لرم! ځکه چې ډېر ښه یې ویلي، ریښتیا هم همداسې ده! د ظلم چراغ تل نه شي بلېدی، که بل هم شي نو یوه شپه دوام ورکړي دریمه خامخا ګلیږي.

د افغانستان اسلامي امارت افغانان کلک مدیون کړل، ځکه خو نن د زړه له تل څخه مینه ورسره ساتي.

خیر! دا طبعي خبره ده چې هره ډله، هر نظام او آن هر فرد لا دوست او دښمن لري، خو ځینې پخپله بد دي او د ځینو یې بیا دښمنان بد وي.

اسلامي امارت دلته لږ تر لږه یو میلیون خلک د واک له نیلیو کوز کړل! نو ولې به نن عُقده نه ورسره ساتي او تعصب به نه ورسره کوي!؟ د دغو ښویېدلو اقشارو زیاته برخه اوس په غربي پنډغالو کې د سوشل مدیا کنسرتونو ته ګډېږي او له هغې مځکې د مقاومت نارې وهي، ځینې یې دلته موچیان شوي، خو ځینې نور بیا د سرک پر غاړو جرابې، سیګریټ او زړې رادیوګانې خرڅوي.

په هر حال... اوس مو ورونه دي! الله دې لومړی ټول اصلاح کړي او بیا یې دې رب له احتیاجه وباسي؛ موږ شجاعت لرو! ځکه خو مو بد نه هغه وخت پرې لورېدل، نه اوس او نه هم له دې وروسته.

سخته ده! چې د بدماشی برېتونه وخریي او بیا د لارې پر سر پنځو او لسو ته ناست وي.

هغوی چې له وطنه تښتي هم یې دې رب راولي، بې وطنه ژوند عیناً بې کفنه مرګ دی!

زه چاته پیغور نه ورکوم! خو دا وایم چې: هر څوک ظلم او کبر کوي، انجام به یې خامخا خرابېږي.

که نن خدای مکړه د اسلامي امارت منسوبین هم کبر او ظلم وکړي، نو سبا به یې همدا حال وي.

ګورئ! ما په بار بار ویلي چې؛ که مو ټیټال یا چاپه لوسي را په کې ولیده، نو مرګ مې درته ښنلی او را ځورند مې کړئ، مګر هو! مینه نو نه شم پټولی، ګواکې تر څو مې چې د زړه خبره و نه کړم، نا آرام وم، ځکه خو ځینې راته وایي چې: ستا مینه هم لېونۍ ده او کینه دې هم.

اې! نن چې په یوه موټر کې اوسنی وزیر یوازې له مزار څخه کندهار او یا له نیمروز څخه ننګرهار ته ځي راځي، دا راج نه دی، بلکې محبت دی! پرون چې د چا ځمکه او هوا دواړه په لاس کې وو! هم به یې عادي افراد بلکې ترافیک لا ولایاتو ته په لویو لوجیستیکي کاروانونو کې تلل راتلل، چې له پاسه به الوتکې پرې ګرځېدې او لاندې به سلګونه وسلوال کسان او لسګونه زغره وال ټانکونه ورسره وو، خو بیا به هم ټول روغ نه رسېدل او هر ځای به یې د پټلانونو ټوټې پرتې وې؟

که هغه مهال موږ (ملت) له اسلامي امارت سره صادقانه ملتیا وکړه، نو نن دوی هم تر درانه احسان لاندې کړو، ځکه یې رام کړي او آرام کړي یو؛ ګواکې مدیون یې یو چې څه نه ورته وایو.

موږ چې پرون څه ورکړي وو، نن یې بېرته څو چنده را کړل او راکوي یې. موږ یې په امنیتي لحاظ دومره آرام کړي یو، لکه خوب چې وینو! ښکا چې ویده شو، بیا فقط د سهار لمانځه ته را وېښېږو؛ ګواکې نه چاپه شته، نه بمبار او نه هم ټوله شپه د الوتکو بنګ بونګ چې نا آرامه مو کړي.

الحمدلله! په هېواد کې مو نن یو وسلوال خارجی هم نشته چې په ساعتونو به یې پر لویو لارو انتظار کړي وو؛ د دوی ټانګ به چې تر مخ ؤ، نو د چا پلار قدرت نه لرلو تر څو مازې ترې مخته شوی لا وای؛ خو نن موږ په نظامي موټرو پسې هارنونه کوو او هغوی (پرته له کوم اندک عکس العمل څخه هم) لاره راکوي.

پخوا د کابل او ولایاتو زیاتره هغه کوڅې پاکې تړل شوې وې، چې هلته به د کوم ځګن کور ؤ! خو نن د وزیرانو له دروازو سره هم هر سړی تېرېدلی شي او هېڅوک څه نه ورته وایي؛ دا خال خال کارونه بې سر او پښو دښمن خراب کړل، کنه نو یقین لرم چې یو سیمټي جدول یا اغزن تار به هم چا په ښارونو کې نه وای لیدلی.

نو اسلامي امارته! په ریښتیا دې مدیون کړو.

هېواد مو دې آزاد کړ او خپلواک دې کړو، خاوره مو دې د پردیو له پلیتو پلونو پاکه کړه، نن دلته د باروتو سمّي بویونه نشته، په نیمه شپه مو اشغالګر ظالمان دروازې په لغتو نه را ماتوي او نه یې په چسپکیو بمونو را الوزوي ، د پردیو بد اخلاقو لښکرو ګزمې مو اوس نه ځوروي، زندانونه مو تش دي، په تیاتر او ټلویزیونونو کې مو ځوروونکې فحاشۍ اوس نه خپرېږي، معادن مو د زورواکو په لاسونو کې نشته، عوائد او مصارف مو ټول خپل شول، بودیجه پخپله او له خپلو عوائدو څخه تصویبوو، احصائیه مو خیالي نه بلکې واقعي شوه، اوس مو په یوه ښار کې هم د پوډریانو څرک لا نشته، د ټولو نشه یي توکیو کر کیلې او کار بارونه بند شول،لویې زیر بنایي پروژې پیل شوې، په پارکونو کې مو اوس بې لارې نجونې او هلکان نشته، په کثافتدانیو کې دا مهال د شرابو بوتل نه تر سترګو کیږي، د افغانستان هېڅ کونج هم اوس داسې نشته چې ورتګ ورته سخت وي بلکې ټول افغانستان په کامله توګه یو موټی شوی او تر واحد نظام لاندې رام او آرام پروت دی.

خو له ټولو مهمه دا چې؛ اوس له حکومتي کسانو څخه زیاتره د ملت وېره نه! بلکې مینه ورسره کوي.

ټولې دولتي ادارې له رشوت څخه پاکې شوې.

نو یقیناً چې اسلامي امارت موږ مدیون کړو، خو الله پاک یې دې راته وساتي او رب یې دې په صفوفو کې یوه داسې خدایي تصفیه راولي، چې ټول نا اهله خلک ترې ورځي او پر ځای یې اهل ور د ننه شي.

# د سمرقند غونډه په کومو موضوعاتو راوڅرخیده!؟

**احمد راشد**



ورمه ورځ / ورې۲۴مه د اوزبیکستان سمرقند ښار د افغانستان په اړه د سیمې او یو شمېر ګاونډیو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو د څلورمې غونډې کوربه و، چې د کوربه هېواد، چین، ایران، پاکستان، روسیې، تاجکستان او ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیرانو په کې برخه اخیستې وه، د یادې غونډې ګډونوالو د افغانستان پر اوسني وضعیت او له موجوده واکمنانو د نړیوالې ټولنې د مهمو غوښتنو چې ((د همه شمول حکومت جوړول، افغان ښځو ته د کار او تعلیم د فرصتونو برابرول او د اقلیتونو د حقونو ضمانت کول)) په کې شامل دي، بحثونه وکړل. په یاده غونډه کې د نړیوال تروریزم، د نشه یي توکو د کښت او مبارزې په برخه کې د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو د لا قوي اقداماتو پر ارزښت هم بحث وشو.

له دغې غونډې مخکې ایران، پاکستان،روسیې او چین په یوې څلور اړخیزې غونډې کې ټینګار کړی و چې د (( داعش، القاعدې، د ختیځ ترکستان اسلامي غورځنګ، تحریک طالبان پاکستان، د بلوچستان د آزادۍ ځواک، جیش العدل او داسې نورې ټولې ترهګرې ډلې، په افغانستان کې دي، د سیمې او نړۍ امنیت ته جدي ګواښ)) دی.

په غونډه کې د یو شمېر هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو د لیدنو په ترځ کې، په افغانستان کې د ترهګرو ډلو د حضور، نشهیي توکو د کښت او قاچاق، بشري او اقتصادي بحران او نورو هېوادونو کې د افغان کډوالو د زیاتوالي په تړاو اندېښنه څرګنده کړه. په دغو لیدنو کې ژمنه شوې چې له افغانستان سره د امنیت ټینګښت، هوساینې، پرمختګ او نورو اړوندو برخو کې همکاري کوي.د یادونې وړ ده چې د افغانستان د وضعیت په تړاو د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو لومړۍ غونډه په پاکستان، دوهمه په ایران او دریمه په چین کې جوړه شوې وه او څلورمه یې په ازبیکستان کې تر سره شوه.

د ترهګرۍ او نشه یي توکو پر وړاندې د سیمې هیوادونو اندېښنو ته په اشارې د بهرنیو چارو سرپرست امیرخان متقي د غونډې ګډونوالو ته ډاډ ورکړی، چې دوی ((هېڅ فرد او یا ډلې ته د دې اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د سیمې او یا د نړۍ د کوم بل هېواد پرخلاف وکارول شي او یا په افغانستان کې د مخدرو توکو کښت یا قاچاق وکړي.افغانستان هېچا ته ګواښ نه دی او د افغانستان اسلامي امارت مسوولانه ژمنه کوي او نه غواړي چې له کوم هېواد سره مداخله ولري او یا د افغانستان له خاورې د چا پر ضد ګواښ رامنځته شي.

دغه راز په غونډه کې افغانستان د مرکز او جنوبي اسیا د اتصال نقطه بلل شوي او ګډونوالو په دغه هېواد کې د بیارغونې او اقتصادي پروژې په عملي کولو ټینګار شوی، چې په دې کار سره به افغانانو ته هم کارونه پیدا شي او هم به افغانستان د سیمې له اقتصادي پروسې سره یو ځای شي، ځکه افغانستان چې د منځنۍ اسیا او جنوبي اسیا په یوه مهمه ژیو ستراتیژیکه سیمه کې موقعیت لري اوس د یوه مسئول او متعهد حکومت له واکمنۍ برخمن دی. یو باثباته او امن افغانستان کولای شي چې د سیمې په امنیت، ثبات او اقتصادي اتصال کې محوري رول ولوبوي.دغه راز افغانستان کې اوس د دې فرصت برابر شوی چې افغانستان د سیمې یو مهم ((اقتصادي او تجارتي)) شریک شي.

له دې حقیقت څخه باید سترګې پټې نه شي. چې اسلامي امارت لله الحمد اوس یو قوي ټولګډونه حکومت جوړ کړی، نظام یې پر پښو ولاړ دی او د هیواد ټول قومونه او ولسونه له دیني، ژبني او قومي له تعصب پرته په دولتي ادارو کې په نورماله توکه کار کوي، دغه راز ښځو ته یې هم د ((شریعت په چوکات)) کې حقوق ورکوي.

له دې سره هممهاله بیا په هند کې هم د منځنۍ اسیا هېوادونو، هند او ملګرو ملتونو د استازو په ګډون غونډه جوړه شوې وه چې په کې له سولهییز افغانستانه پر ملاتړ او د افغانستان ملي حاکمیت، ارضي تمامیت، یووالي او د دغه هېواد په چارو کې په نه لاسوهنو ټینګار شوی و. هغوی همدارنګه د یوه داسې سیاسي نظام غوښتنه کړې وه چې په کې د ښځو او نجونو په ګډون د ټولو افغانانو حقونه خوندي وي.

خو په سیمه او نړۍ کې چې د افغانستان په تړاو غونډې کېږي، لازمه ده چې د اسلامي امارت استازي هلته ګډون ولري، د سیمې او نړۍ غونډو او کنفرانسونو ته ور وغوښتل شي، نظرونه یې واورېدل شي او د افغانستان چارواکي ته باید ځای په کې ورکړل شي، ځکه په سیمهییزه او یا هم نړیواله کچه چې کومې غونډې ترسره کېږي، د اسلامي امارت استازي په کې شتون نلري، نړیوال که په رښتیا د افغانستان د راتلونکې او یا د دوی په خوله د اقتصادي بحران د له منځه وړلو په تکل راڅرخي، نو مهرباني دې وکړي، د ناټو په غړو هیوادونو دې غږ وکړي، چې اسلامي امارت نور تر بېځایه فشارونو او ډول ډول بهانو لاندې ونه نیسي، خپلې غوښتنې او اندېښنې باید په داسې غونډو کې د اسلامي امارت له استازو اویا هم په دوو اړخیزو غونډو کې مخامخ د افغان حکومت له مسئولو چارواکیو سره شریکې کړي، څو ورته حللارې ولټول شي.

# اهداف جنگ فکری

بخش سوم / محمدعمر عمری

قسمت دوم:

پنجم: مزایای اسلام را به عنوان عیب و نقصان جلوه دادن، یکی از مواردی است که امروزه بسیار شایع است.

این موضوع به حدی زیاد است که حتی بسیاری از روشن‌فکرنماها نیز فریب این حربه‌ی دشمن را خورده و اسلام را دین ناقص تصور می‌کنند. در پی توجیه اسلام طبق رای و گفته‌های غربی‌ها هستند.

به عنوان مثال مسئله چندهمسری در اسلام یکی از ویژگی‌ها و خوبی‌های دین اسلام است که شریعت اسلام در آن صلاح جامعه را در نظر گرفته و این چیز را جایز قرار داده است.

حکمت‌های زیادی نیز در آن نهفته است که همه نیز به آنها واقف هستیم. اما بنابر تبلیغات زیاد غرب علیه اسلام تقریبا همه فریب خورده و باور کرده‌ایم که مسئله‌ی چندهمسری یکی از مشکلات دین اسلام است.

تصور کنید زنی نازا است. صاحب اولاد نمی‌شود. حالا شوهرش چه کار کند؟

اگر بخواهد این زن را طلاق دهد که این زن بدون سرپرست در جامعه رها می‌شود و شخص دیگری هم حاضر نمی‌شود با زن نازا ازدواج کند. یا اینکه این زن را نگه دارد و در کنارش همسر دیگری اختیار کند تا از او صاحب اولاد شود.

یا حالت افغانستان را تصور کنید که بخاطر اشغال چند دهه کشور مردان زیادی در راه اسلام و آزادی کشور به شهادت رسیده است و خانواده‌های آنها بدون سرپرست رها شده‌اند.

حال طبق قانون شریعت مردان دیگر اجازه دارند این زن‌ها را به نکاح خود بگیرند و تحت سرپرستی خود درآورند تا بازمانده‌های شهدا بدون سرپرست نمانند.

دیگر اینکه طبق آمار جهانی در تمام کشورها تولد پسر از دختر کمتر است: با این وجود اگر مردها اجازهٔ چند همسری نداشته باشند این همه زن بدون شوهر در جامعه باید چه کار کنند؟ معلوم است که فساد و فحشا گسترش می‌یابد.

مسئله‌ی مهم‌تر این است که الله متعال صراحتا اعلان نموده است که کسی که می‌خواهد چند همسر داشته باشد شرط اول این است که عدالت کند و در صورتی که نمی‌تواند عدالت کند، برای او گرفتن چند همسر جایز نیست.

ترجمه: پس اگر می‌ترسید که نتوانید به عدالت رفتار کنید پس به یک زن بسنده کنید. حالا به‌ببینید که دشمنان علیه این ویژگیِ دینِ اسلام چطور تبلیغات بد راه انداخته‌اند که هرکسی باورش شده است که چندهمسری بد است و این را یکی از مشکلات دین اسلام فکر می‌کنند در حالیکه این یکی از رحمت‌های الله متعال بر بندگانش است و الله متعال بنابر مصلحت‌های زیادی چندهمسری را بر مسلمانان جایز قرار داده است.

ششم: متهم کردن اسلام به فلج کردن قوه‌ی اختراع و خلاقیت از پیروانش:

می‌گویند اسلام پیروانش را کسل و سست و بدون تحرک بار می‌آورد.

قوای محرکه را از او سلب می‌کند تا جایی که نمی‌تواند نوآوری و خلاقیتی داشته باشد.

الله متعال در قرآن عظیم الشان بارها و بارها مسلمانان را به عمل کردن تشویق نمودن است:

ترجمه: بگو ای قوم من هرگونه که می خواهید عمل کنید به راستی من نیز به شیوه‌ی خویش عمل می‌کنم.

ترجمه: ای پیامبران از چیزهای پاکیزه بخورید و کارهای شایسته انجام دهید.

در مجموع تعداد آیاتی که در قرآن عمل کردن را در ضمن خود دارد بالغ بر ۲۵۰ آیت می‌شود.

# عکاسی جنایی ونقش آن در بررسی محل واقعه

پوهیالی سمونمل محمد ناصر مقصودی / استاد دیپارتمنت کریمنالستیک وطب عدلی

مقدمه:

رشته عکاسی رشته ای است که شخص علاقمند، با دیدگاه های مختلف به عکاسی چه از لحاظ نظری چه از لحاظ علمی با آنها آشنا می شود. یعنی تاریخچه عکاسی را یاد می گیرد و با تکتیک استفاده از عکاسی بلدیت حاصل می نماید.

فوتوگرافی: فوتوگرافی یک لفظ یونانی بوده ومشتق ازدوکلمه فوتونور» گرافی «نوشتن یا رسم کردن میباشد.

قبل ازاینکه مشخصاً درباره فن عکاسی توضیحات بیشترارایه گردد بهتراست ازعکاسی جنائی یک تعریف مختصر گردد.

عکاسی جنائی: عبارت ازسیستم علمی است که با استفاده ازمیتودهای مختلف درجمع آوری، تدقیقات آثاروعلایم بمقصد توضیح آن ودر نتیجه برای جلوگیری ازجرایم بکاربرده می شود.

عکاسی وسیله ای برای بهتر دیدن است وزبانی است که نیاز به مترجم ندارد دادن واقعیتهاست وقادراست زمان را منجمد کند. عکاسی یکی از فنون اولیه در تحقیقات جنائی است که در اثبات ارتکاب یک جرم وپیگیری آن کمک می کند. مشاهده عکس توسط کارشناس، کار آگاه وقاضی درحقیقت نگریستن به محل واقعه اززوایای متفاوت است.مهمترین هدف عکاسی ازمحل واقعه جرم، ضبط وثبت دائمی محل است تصاویری که بلافاصله با رعایت فنون متناسب برای بازسازی کامل محل واقعه جرم گرفته می شوند. مدارکی حقیقی و کاملاً قابل استناد هستند. بناءً به اظهارات وکسلر: عکسهای محل واقعه جرم سندی بصری ودائم از محل دست نخورده واولیه جرم است وآنچه را که توسط ماموران تحقیق دیده وجمعاوری شده .به تصورمی کشد. عکسها عناصر کلیدی درتحقیقات بعدی وجلسات محکمه به شمارمی روند. نگارنده دراین مقاله به بررسی ابعاد مختلف عکس درمحل واقعه جرم وتاثیرآن درمراحل پی جوی وقضای می پردازد.

عکاسی تقریبی:محل واقعه ازدوریا تمام ساحه اطراف آن تحت عکاسی قرارمی گیرد دراین نوع عکاسی ساحه وسیع آنطورایکه پولیس درابتدا ورود آنرا مشاهده می نماید طرف عکاسی قرارداده می شود. در این نوع عکاسی اکثراً ازعدسیه های دارای زوایای وسیع است استفاده می شود.

عکاسی منظروی: یا ساحه عمومی محل واقعه ازاین عکاسی جهت عکسبرداری اشیائیکه دارای ارتفاع زیاد می باشد استفاده می شود وبه چهارنوع است.

الف: عکاسی پانارام دایروی پانارام با تغییر جبهه.

ب: عکاسی پانارام خطی به یک خط وبا تعییرجبهه.

ج: عکاسی پانارام عمودی از بالا بطرف پائین.

د: عکاسی پانارام افقی ازپائین بطرف بالا درحالیکه شي یا محل واقعه بشکل وسیع بیکبارگی عکاسی شده نتواند درآنصورت ازاسلوب عکاسی پانارام استفاده می نمایند زیرا بصورت عموم درعکاسی پانارام شي، محل ویا مواد را به اجزا علیحده تقسیم وهرقسمت جزوارعکاسی می گردد، بعداً اجزا عکاسی شده را درپهلوی هم قرارداده یک پانارام عمومی بدست می آید وهمچنان درصورتیکه فاصله، طول وعرض اشیا اهمیت جنائی را داشته باشد درآنصورت ازاسلوب عکاسی با مقیاس استفاده می شود.

عکاسی اصلی مرکزی: دراین اسلوب ابتدا محل واقعه از چند جهت عکاسی گردیده وبعداً عکاسی از قسمت های مختلف محل واقعه بعمل آید. اشیا وآثارایکه درمحل واقعه موجود میباشد درمجموع تحت این نوع عکاسی قرارمی گیرد.

عکاسی تفصیلی: دراین نوع عکاسی جزئیات، آثاروعلایم مهم عکسبرداری صورت می گیرد. دراین نوع عکاسی وضع اصلی محل واقعه، وسایل وآثار جرمی تحت عکاسی قرارگیرد.ازعکاسی تفصیلی در حفظ آثار وعلایم جرمی و مخصوصاً قابل انتقال نباشد استفاده می گردد. باید تذکر داد که آثاروعلایم که درمحل واقعه موجود است درجریان مشاهده حتماً عکاسی گردد.

همچنان دروقت عکاسی ازمقیاس خط کش نیز استفاده می شود مخصوصاً آثار وعلایم ومدارک اثباتیه که دراثبات جرم اهمیت دارد.

عکاسی جسد: درمشاهده واقعه عکاسی جسد جزء اجراات مهم واصلی بوده که عکاسی جسد ازلحاظ بررسی جنائی دارای اهمیت بسزائی می باشد که قرار ذیل توضیح می گردد.

– شکل جسد را طور مکمل درمحضر مشاهده محل واقعه درج نمودن قدری مشکل است روی این علت آنراعکاسی می نمایند.

– جسد و وضع آن با تمام جزئیات وخصوصیات اطراف آن عکاسی شود.

– در موقع عکاسی جسد باید متوجه بود تا تمام آثار وعلایم از قبیل جراحات، لکه های خون، لباس، موی وغیره جسد گونه آن دیده شده عکاسی گردد. چه با کمک عکس می توانیم تمثیل دوباره محل واقعه را بصورت بهتر آن ممکن سازیم وعکاسی اجساد در تثبیت مشخصات اشخاص مفقود الاثر نیز بی اهمیت نیست. بسیاری اوقات عکاسی جسد مجهول الهویه باعث دریافت هویت موصوف شده می تواند.

– جسد را باید بعد ازعکاسی ابتدائی دوباره آرایش نمود تا چهره اصلی آن معلوم شده بتواند بعداً از سه جهت یعنی روبرو، راست وچپ ازفاصله یک ونیم مترعکاسی گردد وهم در زمان عکاسی از جسد آثار وعلایم خون، جراحات به مقیاس بزرگتر باگذاشتن مقیاس عکاسی شوند.

عکس برداری نشان انگشت: چنانکه قبلاً هم شرح داده شد آثارانگشت پاستیک وآثار مرئی را می توان فوراًعکس برداری نمود ولی آثار نامرئی را باید ابتدا با وسایلی که ذکر شد ظاهر وبعد ازآنها عکس برداشت. باید توجه داشت درمواردی که پودر سفید برای زمینه سیاه بکار برده می شود خطوط انگشت برنگ سفید ظاهر خواهد شد.

امروزدونوع کاغذ فویل بکاربرده می شود که یکی فویل سیاه رنگ ودیگری فویل شفاف است ولی فویل شفاف ارزشمندی خاص خود را دارد زیرا ممکن است آنرامستقیماً در ویترین عکاسی بکار برد واز روی آن عکس های بزرگتر چاپ نمود.

وقتی فویل شفاف مصرف می شود بهتر است برای ظهور نشان انگشت پودر سیاه رنگ بکار برد زیرا رنگ سیاه درروی رنگ زرد روشن فویل بهتر نمایان می گردد. به طور کلی کاغذ های فویل را بیشتر باید در مواردی مصرف کرد که عکس برداری به عللی غیر ممکن باشد.

آزمایش آثاراتفاقی: پس ازاینکه آثار به ترتیبی که ذکر شد ظاهروبعد عکس برداری شدند برای تشخیص وتثبیت هویت صاحب آن فعالیت آغاز می گردد.

البته درهرموردی ممکن یک یا چند نفرمورد سوظن قراربگیرند ومقایسه اثر بدست آمده با انگشتان آنها برای تثبیت هویت کافی باشد اما عموماً مقایسه اثر یا نشان موجود درآثارانگشت منفرد قابل توجه است. درهردوحال ابتدا لازم است مشخص شود اثر بدست آمده متعلق به کدام دست وکدام انگشت شخص است.

نتیجه گیری:

ازتحقیق فوق به این نتیجه دست می یابیم که عکاسی درمحلات واقعات جرم از مهم ترین اهمیت خاص برخوردار بوده است که هرسند مهم که عکاسی می شود هیچ وقت تغیر نمی کند.

عکاسهای محل واقعه جرم درارگانهای ضبط قضائی ځارنوالی ومحاکم خیلی مفید وموثراست زیرا ارگانهای مذکور، وکلای مدافع وقضات اغلباً محل واقعه را شخصاً ندیده وجود عکس برای روشنی ذهن آنها بوضع محل واقعه کمک زیاد خواهد نمود.

عکسهای محل واقعه جرمی بدون شک ازنظرروانشناسی نیزدرخود متهم واعضای محاکم تاثیر زیاد دارد زیرا منظره یک واقعه قتل را باهیچ زبان وقلمی بهتر از یک عکس روشن نمی توان مجسم نمود.

یک پولیس هرقدرهم که حافظه قوی داشته باشد. بازهم قادر نیست تمام جزئیات واقعه جرمی را که دیده به خاطر بسپارد ودراثر گذشت زمان نیز بتدریج قسمت قابل ملاحظه ومهم ازمشاهدات ابتدائی خود را فراموش می کند.

بنابراین عکس برداری ازمحل واقعه جرمی باعث می شود تا اشخاص مورد نظردرهرزمان که لازم باشد با ملاحظه عکسهای تهیه شده بتواند محل واقعه جرم را بطور کامل درذهن خود مجسم نموده وجزئیات فراموش شده را بخاطر آورند.

درمواقع ضروری ارایه عکس های تهیه شده از محل واقعه جرم در محاکم تاثیر مثبت راجع به تشریح واثبات چگونگی وقوع جرم نموده وجلب توجه قضات را برای صدورحکم عادلانه می نماید.

ازمواقعی که پس از گذشت مدتی از زمان وقوع جرم لازم باشد محل واقعه دوباره تمثیل شود عکس های تهیه شده قبلی کمک فوق العاده به احیا دوباره و دقیق محل واقعه جرم می نماید.

منابع:

انتشار کار آگاه پیاپی٦ بهار ۱۳۸۸ نویسنده غلام محسین بیابانی.

پوهنیار سمونوال حفیظ الله نایل آمر دیپارتمنت کریمنال تخنیک وطب عدلی سال ۱۳۹٤

پوهیالی سمونمل ذبیح الله ناظمی استاد دیپارتمنت علوم جنائی اکادمی پولیس سال ۱۳۸۷.

پوهنیار مل پاسوال عبدالمنال همدل مبانی تحقیق بهار ۱۳۹٤.

# عدالت ترمیمی به عنوان روش جدیدِ مقابله با جرم

عبدالرحمن «میرزایی»

عدالت ترمیمی جنبشی جدیدی است در عرصه جرم شناسی و حقوق جزا. از آنجایکه جرم سبب جریحه دارشدن وجدان جامعه می شود، دست اندرکاران عدالت را وامی دارد تا آسیب های به وجود آمده را ترمیم کند و طرفین را در این روند(ترمیم آسیب های وارده)، دعوت کند. بناءً یکی از شاخصه های عدالت ترمیمی این است که، متضرر، مرتکب جرم و سایر افرادی که به نحوی تحت تأثیر جرم قرار گرفته است را قادر می سازد تا در حل مسئله ( مقابله با جرم)، مستقیماً دخالت داشته باشند، افراد یاد شده در محور فرایند عدالت جزایی قرار می گیرند. در این روش مقابله با جرم«عدالت ترمیمی»، دولت و حقوق دادن نقش تسهیل کننده در سیستمی را ایفا می کند که مقصد آن مسئولیت پذیری و پاسخگو ساختن مجرم، بازسازی آسیب های واردشده به فرد و جامعه است. در حقیقت، روند دخالت تمام طرفین، شرط اساسی بدست آوردن اصلاح و آرامش است.

عدالت ترمیمی، که به گفته برخی از نویسندگان، از ظهور و پیدایش آن در حدود ۳۰ سال می گذرد، چیست و چه تعریف یا تعاریفی از آن ارائه شده است؟ می گویند، یکی از تعاریف پذیرفته شده، تعریف« تونی مارشال » جرم شناس و نویسندهٔ انگلیسی است. او می¬گوید: « عدالت ترمیمی، مجموعهٔ از اجراآت و عملکردهای است که در آن، کلیه کسانی که د خصوص یک جرم خاص سهمی دارند، گردهم می آیند، تا به طور جمعی، در بارهٔ چگونگی برخورد با آثار و نتایج جرم و مشکلات ناشی از آن، برای آینده تصمیم گرفته، و راه حلی بیابند.»

در بیان تعریف متذکره، به پنج ویژگی و مشخصه اشاره شده است که به صورت زیر آن ها را خلاصه می کنیم:

۱. عدالت ترمیمی دعوت همه اطراف « جرم» به مشارکت کامل است. در این روند مشارکتی، مجرم یا مجرمین، متضرر یا متضررین، جامعه محلی و ... در تأمین و اجرای عدالت مشارکت کرده و درگیر میشوند، و تنها یک فرد یا گروه، و نهادی به نام دولت، و «قاضی» یا دستگاه عدالت جزایی، سلطهٔ انحصاری در اجرای عدالت ندارد.

۲. عدالت ترمیمی در صدد بهبود بخشیدن به چیزی است که نقض شده و صدمه دیده است. یعنی باید ببینیم« متضرر از جرم» چه نیازی دارد تا آرامش و بهبود پیدا کند. مجرم در تکاپوی تأمین کدامین درمان و علاج است.

۳. تلاش برای« ایجاد احساس پاسخگوی کامل و مستقیم»، سومین مشخصه این تعریف است. احساس مسئولیت و پاسخگویی که مربوط به اجرای عدالت ترمیمی است، پاسخگویی صرفاً تحمل مجازات یا خسارتها، و احساس دین و شرمندگی نیست، بلکه جبران صدمات وارده بر متضرر( از هرقبیل) است. جبران صدمات متعددی است که در جامعه محلی، و در اجتماع، متوجه متضرر و مجرم گردیده است.

٤. «بازگردانِ وحدت و هماهنگی» به گسستی که در اثر ارتکاب جرم ایجاد شده، چهارمین ویژگی تعریف فوق است. در واقع جرم در روابط افراد جامعه، شکاف ایجاد کرده و این روابط را مجروح، پریشان و پراکنده میکند، و« عدالت ترمیمی» در تکاپوی آن است که علاج پیکرهای صدمه دیده و روحهای پریشان گردد، و آن روابط گسسته را دوباره حیات بخشد.

۵. ویژگی پنجم در تعریف، ناظر برهدف عدالت ترمیمی است. جرم نه فقط موجب صدمات متعدد شده که نمایشگر شرایط ناعادلانه، و زمینه های مساعد وقوع جرم است. از عدالت ترمیمی: « در جستجوی راههایی برای ترمیم وضعیت های جرم زای موجود، و پیشگیری از جرم است.

به گفته زِهر ( Zehr )، « این احساس وجود دارد که عدالت ترمیمی نه یک اقدام، یا مجموعه ای از اقدامات، بلکه یک فلسفه است. روش (نوین) نگرشِ به جرم و پاسخ به آن.»

«برایت ویت» می نویسد: « تا زمانی که اجتماع اصولاً بر این اعتقاد است که «متخصصان» می توانند از طُرق علمی راه حلهای مشکل مجرمیت را پیدا کنند، این خطر وجود دارد که شهروندان از مشارکت در برنامه ها و اقدامات پیشگیرانه ای که توسط خود آنها انجام شدنی است، خودداری کنند. با این تلقی، وقتی من شاهد ارتکاب جرمی هستم یا می بینم که همسایه کنار من در حال نقض قانون است، من فقط باید به کار خود برسم، زیرا افراد دیگری هستند که به عنوان پولیس، وظیفهٔ برخورد با این مشکل را دارند.

بناءً، جرم زمانی کنترول میشود که اعضای اجتماع، از طریق مشارکت در تقبیح و سرزنش مجرم و ایجاد شرمساری در وی، با تشریک مساعی منسجم، و درضمن بازپروری مجرم در اجتماع جهت تبدیل وی به انسان مطیع قانون اولین نقش را ایفاء کنند... اجتماع تلاش میکند تا مشکل مجرمیت خود را به دست خود حل کند، نه به دست پولیس و مراجع حرفه ای. نقش قانون، در صورت فقدان مشارکت اجتماعی، صرفاً ناظر به فرآیندهای اِعمال مجازات و به صورتی بی معنا خواهد بود، مگر آنکه با مشارکت اجتماعی، چنین نقشی واجد وصف اخلاقی شده، در حل مشکل جرم، به مراجع ذیصلاح کمک کنند.

# ضرورت و نیاز اجتماع به روابط عمومی

پوهیالی مسجدی - رسولی

مقدمه: ارتباط یکی از مهم‌ترین دستاوردهای انسان محسوب می‌شود که در زندگی روزمره‌ی انسانی نقش بسیار ارزنده و مهم دارد و معیارها و ارزش‌های انسانی شکل گرفته به واسطه انسان‌ها هم پیامد برقراری ارتباطات هدفمند و سالم در میان آنها پنداشته می‌شود. که در دنیای امروزی، ارتباط یکی از نیازمندی‌های مهم وحیاتی برای هرانسان بوده و بخشی از زندگی انسانی شمرده می‌شود. امروزه با پیچیده و پیشرفته شدن نظام اجتماعی ضرورت و نیازاجتماع به نسبت به هرچیز به روابط عمومی فزونی می یابد که در مقاله هذا تشریح شده است. توجه ویژه به روابط عمومی به عنوان نهادی که می تواند به صورت نظام مند، برنامه ریزی شده و سنجیده درجهت ایجاد، حفظ و گسترش تعامل و تفاهم مدیران با کارکنان اقدام کند، که حایزآهمیت است واین مسئله نقش روابط عمومی را چشم گیرتر و وسیع تر می سازد.

مفهوم روابط عمومی

اصطلاح روابط عمومی، ترجمه واژه انگلیسی(Public Relations) برای بارنخست درامریکا در اتحادیه راه آهن به کار برده شد. راوابط عمومی را در زبان عربی(العلاقات العامه) ترجمه کرده اند(حبیبی، ١٣٨٦). دانشمندان و متخصصان علوم اجتماعی در باره دانش نوپای روابط عمومی پژوهش‌های انجام داده اند و آثار پدید اورده اند. روابط عمومی فلسفه اجتماعی مدیریت است. مدیریت مسؤلیت شناس این فلسفه را باکمال صراحت در مقررات و خط مشی خود بیان می کنند و همه اقدامات و اعمال سازمان را که ناشی از فلسفه اجتماعی مدیریت بوده به اطلاع مردم مورد اعتماد خود می رسانند تا حسن نیت و تفاهم مردم را جلب کنند. یا روابط عمومی آن دسته از اعمال مدیریت است که مدیر به دستیاری آن برخورد ورفتار عامه را می سنجد و درنتیجه خط مشی‌ها و طرز رفتار فرد را به صورتی که متضمن منافع عامه، فرد یا موسسه مزبور باشد، تعین و برنامه‌های عمل و فعالیت ارتباطی خود را به منظورحصول حسن تفاهم و قبول جامعه طرح می کند(مارستن، ١٣٨٦).

**تعریف روابط عمومی**

روابط عمومی و یا روابط عامه از دوبخش(روابط) یعنی ارتباط و کلمه(عامه) یا عمومی تشکیل شده و تعداد زیاد مردم را معنا میدهد. و در اصطلاح عبارت از سروکارداشتن گروه‌ها، سازمان‌ها، حکومت‌ها، و دولت‌ها با یکدیگر به خاطر پیشبرد، اهداف مختلف اجتماعی، اقتصادی و سیاسی میباشد. ارتباط یعنی ربط دادن، بستن، پیوستگی و پیوند چیزی به چیزی دیگری که مفاهیم مختلف را از قبیل انتقال و انتشار اندیشه ها و اگاهی، اشتراک فکری و همکاری عمومی را در برمی گیرد(اسدیار، ١٣٩٩).

روابط عمومی به مثابه پلی میان یک اداره ومخاطبان است. یا روابط عمومی عبارت از انتقال، تجزیه و تحلیل اطلاعات و نظریات مدیریت یک اداره به مخاطبان آن، به منظور ایجاد همسوی و هماهنگی در علایق و منافع صورت می گیرد. روابط عمومی مجموعه از اقدامات و کوشش های حساب شده ای است که هر اداره برای برقراری ارتباطات مؤثر و هدفمند با گروه های که با آن در ارتباط اند، انجام می دهد. روابط عمومی روبروشدن یک اداره با مخاطبان اش را از طریق پرداختن به موضوعات، مطالب و اخباریست که به منافع مشترک آنها مربوط است. یک تعریف تایید شده درمجمع جهانی روابط عمومی درشهر مکزیکوسیتی درسال١٩٧٨ که ازسوی ٣٤ سازمان روابط عمومی ملی نیز تایید وحمایت قرار گرفت عبارت است از: روابط عمومی، هنر و علم اجتماعی تجزیه و تحلیل روندها، پیش بینی عواقب روندها، مشورت، مشورت دادن به رهبران سازمان و اجرای برنامه های عملی طراحی شده ای است که هم به درد سازمان می خورند و هم در راستای منافع عموم قرار دارند(ویلکاکس، ١٣٨٦). کلمه ارتباط در علوم ارتباطات اجتماعی، در زمینه انتقال و انتشار اطلاعات و اندیشه‌ها و ایجاد همبستگی‌های اجتماعی و اشتراک فکر به کار می رود.

**ضرورت و نیاز اجتماع به روابط عمومی**

امروزه از دانش و هنر روابط عمومی به عنوان یک نهاد شبه مدنی در جهت تسهیل ارتباطات دوطرفه بین دولت و آحاد مردم یاد میشود و با پیچیده تر شدن نظام اجتماعی برضرورت، گسترش و توسعه این علم و حرفه جدید بیش از پیش اتفاق نظر حاصل میشود تا انجا کمتر نهادی یا سازمانی خودرا بی نیاز از تشکیلات روابط عمومی می بیند. بدون تردید در یک جامعه ساده و نهادینه نشده نقش‌ها مشخص است، به عبارت دیگر صنایع ونهادهای صنعتی متعارف برای حل و فصل مسایل افراد و جامعه کافی به نظر می رسند و شاید به نهادهای واسطه و میانجی چندان نیازی نباشد، زیرا افراد به طورمستقیم می توانند برای حل و فصل مسایل خود به مراجع اصلی و پاسخگو مراجعه کنند. اما دریک جامعه پیچیده و پیشرفته نیازها و مطالبات بیشتری ایجاد می شود و ضرورت نظم و قانون درآن افزایش یافته، نوعی تقسیم کار به ویژه در بعد اجتماعی شکل می گیرد. دراین جوامع پدیده به نام دولت جدید وسازمان اداری جدید معنا پیدا می کند. هر فردی بدون شک برای ارتباط خود با جامعه و جامعه برای ارتباط خود با دولت نیازمند این واسطه ها است. این جمله این واسطه ها می توان از نهادی‌های روابط عمومی نام برد. یعنی روابط عمومی وظایفی است که فرد درگذشته خود آن را انجام می داد(افشار، ١٣٨٧).

در ضمن درجامعه انسان‌ها به هم نزدیک و افکار و اعمال انسان‌ها و جمعیت‌ها از دید و نظر یکدیگر پنهان نیست و تبادل افکار، اطلاعات، دانش‌ها، هنرها و تبلیغات درحجم و سرعت گیج کننده ای درجریان است. از طرفی ماشینی شدن زندگی، افزایش جمعیت، تقسیم کار و مشاغل، تخصصی شدن فعالیت‌ها، تنوع امکانات بهره وری، برتری جوی‌ها، ترویج شیوه های رقابتی و مقایسه ای، رفاه طلبی‌ها، خستگی‌ها، کم حوصلگی، بی اعتمادی‌ها وتنوع طلبی‌ها باعث شده است تا جمعیت انسانی در حالی که از لحاظ فزیکی و زیستی به یکدیگر نزدیک تر شده اند از نظر عاطفی، اخلاقی و ذهنی دور ازهم، منزوی، خود خواه و نا همگون و پراکنده شوند و بیشتر مردم سردرگریبان خویش و در پی منافع رهرو راه خود شان هستند. اینجاست که اهمیت نقش روابط عمومی نمایان می گردد. روابط عمومی می توانند پل ارتباط بین افراد جامعه و سازمان ها باشند، البته پل های که اگرمستحکم نباشند به یقین از بهره ذهنی لازم وکارآیی برخوردار نخواهند بود. روابط عمومی با مجموعه ای از ابزار و مصالح بی جان، سخت، سفت و ساده موجود در طبیعت سروکارندارد، بلکه حوزه و حیطه عمل آن احساسات و عاطفه‌ها و دریک کلام افکارعمومی است واین خود اوج اهمیت جایگاه و مراتب روابط عمومی را می رساند که به عنوان فن و هنر برقراری ارتباط به منظور تاثیرگذاری بر جامعه و دریافت تصویر واقعی از افکارعمومی به منظورلحاظ کردن انی نگرش و تصورات در اداره بهتر سازمان تلقی می گردد. هر سازمان و اداره که به دنبال موفقیت خویش و رضایت مراجعین خود باشد، بی نیاز روابط عمومی نیست. بی شک حاصل یک روابط عمومی موفق برای فرد و یا سازمان‌ها شهرت، رضایتمندی و اعتبار را درپی خواهد داشت که در جوامع و سازمان‌های برخوردار از روابط عمومی قوی ومؤثربا اشکار شدن نقاط قوت و ضعف سازمان، پویایی، کارآمدی وتوسعه پایدارشکل خواهد گرفت(سازمان تبلیغات اسلامی،١٣٨٧).

به طورکلی روابط عمومی سازمان وظایف خود را در ابعاد اطلاع رسانی، تبلیغ، وترغیب، مشارکت جویی، همگرایی و بهینه سازی امور به مرحله ظهور می رسانند که این وظایف بر پایه ارتباطاتی مانند ارتباطات داخلی، ارتباطات خارجی، روابط اجتماعی، روابط رسانه ای و... بنا شده است. هم چنان ارتباطات، محور اصلی وظایف روابط عمومی محسوب شده و دارای اهمیت ویژه ای می باشد که باید درسازمان‌ها تمرکز خاصی روی این مقوله شود. اگر ارتباط با مخاطبان به درستی تحقق نپذیرد، دیگر وظایف روابط عمومی عملاً معنایی نخواهد داشت(یعقوبی، ١٣٨٦).

وظایف روابط عمومی به عنوان بخشی از مدیریت سازمان عبارت اند از...

١) طرح ریزی و اجرای برنامه‌های سازمان به منظور تاثیرگذاری و یا تغیرسیاست عمومی.

٢) پیش بینی، تحلیل و تفسیرافکارعمومی، گرایش‌های ذهنی و مسایلی که ممکن است به نحوه مطلوب یا نا مطلوب برعملیات و طرح‌های سازمانی تاثیربگذارد.

٣) مشورت‌های اداری در زمینه تصمیم گیری‌ها، مراحل اجرای آنها وارتباطات در کلیه سطوح سازمان به نحوی که عواقب عمومی این تصمیم گیری‌ها و مسؤلیت شهروندی اجتماعی سازمان درنظرگرفته شود.

٤) تعیین هدف‌ها، برنامه ریزی، بودجه بندی، استخدام و آموزش کارمندان، تهیه سایر تجهیزات و به طور خلاصه اداره منابع مورد نیاز اجرای تمامی برنامه‌ها.

**نقش روابط عمومی**

برهمه‌گان هویدا است که کارکردن برای کارکنان دریک نهاد یا سازمان، بدون همراهی و همگامی کارکنان به بار نخواهد نشست، همراه کردن کارکنان، جلب مشارکت و اعتماد آنان برای پیشرفت های مادی ومعنوی سازمان ازجمله وظایف و کارکردهای اساسی روابط عمومی است. تقویت روابط عمومی‌ها جهت تقویت روابط عاطفی مدیران و کارکنان جایگاه روابط عمومی در اطلاع رسانی دولت و فرهنگ سازی در سازمان‌ها ازدیگرکارکردهای این نهاد است. توجه ویژه به روابط عمومی، به عنوان نهادی که می تواند به صورت نظام مند، برنامه ریزی شده و سنجیده در جهت ایجاد، حفظ و گسترش تعامل و تفاهم مدیران با کارکنان اقدام کند، بسیارحایزاهمیت است. روابط عمومی مدون و برنامه ریزی شده یکی از ابزارهای قوی مدیریت افکار است و به عنوان اصلی ترین حلقه ارتباط بین مدیران و کارکنان، مسؤلیت، خطیری در فرایند دسترسی مدیران و افکار جمعی کارکنان دارند. و روابط عمومی به عنوان یک(فن) و(هنر) نقش بسزای در برقراری و تسهیل ارتباط دوسویه بین مدیران سازمان و کارکنان دارد طوریکه امروزه کمتر سازمانی را می توان یافت که خود را بی نیازاز روابط عمومی بداند و در عین حال موفقیت‌های چشمگیری را در زمینه‌های مورد نظر و تحقق اهداف از پیش تعین شده به دست اورده باشد. اگر مدیران می خواهند هنر مردم داری را تحقق بخشند، لازمه آن به کارگیری مدیران روابط عمومی کاردان، متخصص، با اخلاق و هنرمند در برقراری ارتباط با مخاطبان است(محبی،١٣٨٤).

مزایای روابط عمومی

روابط عمومی نقش سازنده با مخاطبان سازمان دارد و به علت ارتباط گسترده افهام وتفهیم بیشتر بین مدیران سازمان و مخاطبان تامین می گردد. هم چنان مسئولان سازمان می توانند از نظریات و پیشنهادات مخاطبان بدون اتلاف وقت اگاهی یابند. سرعت اطلاع رسانی، تجزیه تحلیل و ارزیابی اطلاعات یکی از مهم‌ترین مزایای روابط عمومی الکترونیک است که خود را به روابط عمومی سنتی تحمیل مینماید. یکی دیگر از مزایای روابط عمومی عبارت از کاهش هزینه درانتقال اطلاعات، مصرف کاغذ کارگران فابریکه‌ها و ده‌ها مورد مصرفی دیگر است.

**نتیجه**

از لابلای تحریر خود به این نتیجه رسیدیم که انسان از همان مبدا خلقت، اجتماعی خلق شده و نیاز شدید دراجتماع به روابط اجتماعی دارد، با آنکه برای نخستین بار آدم(انسان) بعد از خلقت با خالق خود الله متعال ارتباطات برقرار نمود و از بدوه پیدایش و زمینی شدن انسان، ارتباطات بخشی از زندگی وی بوده است. روابط عمومی به یک فرد و یا سازمان کمک می کند که رابطه سازنده ومثبت با عموم جامعه داشته باشد این کار ازطریق ارتباطات، رسانه‌های سنتی، شبکه های اجتماعی و برخورد های حضوری میسراست. روابط عمومی به مثابه پلی میان یک اداره و مخاطبات است. تماس و نزدیکی انسان‌ها باعث رشد ارتباطات انسانی شده و ارتباطات نیز زمینه‌ی رشد و ترقی جوامع انسانی و برقراری، تحکیم و تداوم رابطه‌های شخصی، اجتماعی، فرهنگی وسیاسی در میان آنها را مهیا کرده است. در دنیای امروزی ارتباطات یکی از فکتورهای مهم زنده گی انسانی شمرده می شود و برای انسان‌ها مشکل است تا بدون برقراری تماس با دیگران زندگی ارزشمند و مؤفق داشته باشند، و داشتن ارتباط درجوامع انسانی یک نیازهمه‌گانی است. ازین رو انسان‌ها باید به ارتباطات به مثابه‌ی یک عنصرارزشمند و یکی از نیازهای مهم زندگی فردی، اجتماعی و کاری خویش ارزش قایل شوند.

**پیشنهادات**

برای مؤفقیت روابط عمومی در اجتماع می توان پیشنهاد زیل را اریه کرد!

١ - اعطای اقتدار و جایگاه شایسته به روابط عمومی.
٢ - گسترش مشارکت های مردمی.
٣ - گسترش تماس و ارتباط هدفمند با مخاطبان، مدیران و کارکنان.
٤ - گسترش اصل گفت وشنود در درون و بیرون سازمان و برقراری ارتباط دوطرفه با مخاطبان.
٥ - قرار گرفتن روابط عمومی در جایگاه سازمانی و سازمانی مناسب.

منابع

١ - اسدیار، امان الله، روابط عامه. لکچر نوت درسی. ( ١٣٩٩هـ ش). کابل .
٢ - ناتری، بابک شمس و توستانی، حامد باقری، نویسنده‌گان. اصول ارتباطات و تبلیغات .
٣ - سروری، عبدالقهار، ارتباطات انسانی.(١٣٩٨). ناشر: انتشارات خراسان .
٤ - کاظم پور، زهر، اشرف ریزی، حسن، السادات عبداللهی، عظیمه. مقدمه ای بر روابط عمومی .
٥ - محبی، محمد. نقش روابط عمومی.(١٣٨٤). روزنامه همشهری، سال سیزدهم، ٢٣مهرماه. شماره ٣٨٢٥ .
٦ - یعقوبی، سعید. مبانی روابط عمومی الکترونیک. ویرایش زهرا بابا زادگان. تهران: کارگذار روابط عمومی .
٧ - ویلکاکس، دنیس ال و دیگران. روابط عمومی: و نقش فرآیند و استرتیژی.( ج اول). ترجمه، محمد اعرابی و داوود ایزدی. تهران: دفتر پژوهش های فرهنگی .
٨ - مارستن، جان. روابط عمومی و نقش آن در مدیریت سازمان‌ها.(١٣٨٦) .

# صحت طفل که زحمت طفل

مولوي حزب الله رشتين

**د صحت طفل شفاخانې د سترګو ليدلی حال**

د تېر کال وروستۍ يا د حوت آخر وه، چې ١٠ کلن زوی سهيل له مابنام لمانځه مل له دېواله راولوېد، چې کيڼ لاس يې درې ځايه مات شو کله مې چې صحت طفل يا اندراګاندي شفاخانې ته ور وستو، نو زر يې داخله د هډوکو واټ ته ولېږلم، ناروغ مې په ډېر سخت حالت کې تر يوولس نيمو بجو په چيغو چيغو د شپې انتظار و، نه د ډاکتر درک و او نه چا پوښتنه کوله اخر ځو تنه نرسان راغلل او د هلک لاس يې کچ کړ سبا ته چې مې ايکسرې واخيسته لاس يې کوږ کچ کړی و هلک يې بيا په چيغو کړ، ډېر يې وځوراوه لاس يې دوهم ځلي ور باندې مات او کچ کړ. دوې هفتې کور کې و، چې بيا مو مراجعه وکړه ايکسرې مو واخيسته بې ځايه جوړ شوی و او د هډوکو تر منځ يې فاصله وه نو بيا دغه متجاهلان متخصصينو ويل فرق نه کوي که لاس کوږ هم شي دوديز پرې خوړلی شي يوازې بې دوله معلومېږي، زه چې هلته وم هم دا دول د نورو ناروغانو ايکسرې په لاس چې لاسونه کاږه جوړ شوي و، هم جعلي قصابانو متخصصينو ورته ويل: داچې لوی شي بيا په خپله جوړېږي، دې قصابخانې ته بې چاره افغانان د لرو ځايونو راځي او دلته اکثره لاسونه او پښې کاږه جوړېږي ټول خفه او پرېشانه ځي، ما چې له نرسانو پوښتنه وکړه، چې دا ولې داسې کېږي هغوی راته وويل چې مسئول طالبان هڅه کوي چې کار سم شي، خو دلته د نرسانو او ډاکترانو تر منځ اختلاف دي ځينې متخصيصين کار نه کوي او له طالبانو هم ډار نه لري وايي: هغوی په موږ څه نه شي کولی ماچې له نرسانو پوښتنه وکړه چې دا متخصصين ولې کار نه کوي هغوی ويل چې کوټې ته ننوځي او دروازه په ځان پسې بنده کړې او وارډ د ارتوپيدي نرسانو ته وسپاري دا لاڅه کوې د دې وارډ په جنوبي اخره برخه کې يو منحوس مخې نرس دوله ناست و په زوره يې سندرې اورېدلې: کله چې مې ورنه پوښتنه چې ډاکتران چېرې دي ؛ په ځواب کې راته وايي: څه کاکا ور دربند کړه، خبرې مه کوه ، کله چې مې له نرسانو پوښتنه وکړه چې دا ولې تاسې کار نه کوئ راته ويل پې : چې موږ څه موده مخکې د دې متخصصانو له لاسه استعفی ته اړ شو، ځکه کار دوی نه کوي او رنګ زموږ بدېږي. دغه خلک له ناروغانو سره بد چلند کوي او دوحشيانو او درنده ګانو دماغونه لري، دغو ورو ډاکترانو ويل چې دا له ناروغانو سره دښمني لري او له بې وزلو افغانانو سره حساسيت.نو د سهيل په شان ډېر ناروغان يې په بد سرنوشت اخته کړ، نو د نوموړې شفاخانې له ادارې او د صحت عامه د وزارت د شفاخانو د عمومي رياست له مسئولينو نه په درناوي هيله کېږي چې دغه ستونزه جدي تعقيب کړي زما زوی خو مې پېښور ته واستولو او يقين په الله چې قرض مې ورته واخيست نو يو بې وزله بې سواده وطن وال چې لاس او پښې يې کږې وږې جوړې شي چېرته ولاړ شي د اړونده چارواکو د پاملرنې وړ ده زه د دې ليکنې ټول ثبوت لرم او که مې غوارئ د ادارې عالي تفتيش د پيګړی د رييس په صفت درته حاضر يم البته د شفاخانې ښاغلي رييس ته ورغلم هغه يو ډېر ښه ډاکتر ته حواله کړم خو اوبه له ورخه تېرې وې!!!

# پاکستان دې له افغانستان سره پر خپله پالیسۍ له سره غور وکړي!

**ابو عمر سعید**



څرنګه چې په کور، کلي کې یو ګاونډی پر بل باندې حقوق لري، همدغه شان یو کلی پر بل کلي او یو هېواد هم بل هېواد باندې ډېر حقوق لري. وجه یې دا ده، چې ګاونډیان یو بل ته ډېر به اساني نفع او ضرر رسولی شي. یعنې که ښه ګاونډیتوب یې کاوه، یو بل ته به یې ډېره زیاته ګټه رسېږي او که سره بد شول، نو تر بل هر چا یو بل ته ډېر ضرر هم رسولای شي.
پاکستان او افغانستان هم لومړی په اټک کې او بیا د موجوده تحمیلي کرښې (ډیورنډ) پر غاړه؛ ډېر اوږد ګاونډیتوب سره لري. د ګاونډیتوب هغه کیسه به یې پر ځای پرېږدو، چې د انګرېز له وتلو وروسته، د پاکستان د جوړېدلو پر مهال یې تر اټکه زموږ پراخه سیمه غصب کړه او تر اوسه لا پرې پراته دي، خو زموږ لویه ګیله دا ده، چې پر دې هر څه سربېره، ولې داسې ناوړه چلند راسره کوي، چې د ګاونډیتوب په هیڅ تعریف کې نشته. له اسلامي ورورګلوۍ ور هاخوا، حتی د انسانیت په چوکاټ کې هم ګاونډیتوب نه راسره کوي. پښتونخوا خو دې غصب کړه، واک پرې ستا چلیږي، افغانان په خپله پښتونخوا کې «مهاجر!» دي، مګر دومره ګزاره خو کوه، چې خلک خو ازادانه تګ راتګ وکړي. ځکه ډیورنډ کرښه د پښتون قوم پر وجود راښکل شوې، دا قوم یې دوه ځایه کړی، اوس خو باید دومره اجازه ورکړل شي، چې دغه خلک تګ راتګ سره وکړي، خپلوي او دوستي وپالي او خپل تجارت او نورې چارې تر سره کړي.
لومړی یې هلته مهاجرین ځورول، ورپسې یې د تېر غلام رژیم پر مهال ډیورنډ فرضي کرښې ته فزیکي بڼه ورکړه، د پښتون قوم پر سینه یې اغزن سیم تېر کړ، د پاسپورټونو او ویزو ستونزه یې رامنځ ته کړه، بیا یې د ویزو په ورکړه کې مشکلات ایجاد کړل، اوس بالآخره ګاونډیتوب تر دې حده ورسېده، چې هلته مېشت مهاجر یې هم بندیان کړي، په افغاني تذکره یې نه راپرېږدي!
سره له دې چې دا څو ورځې افغان مهاجرین ناړې وهي، چې خپل وطن ته خو مو پرېږدئ، د اختر مخه ده. خو هیڅوک یې غږ نه اوري. خلاصه دا، چې پاکستان باید افغانستان سره پر خپله پالیسي له سره غور وکړي، دا ډول چلند تر موږ دوی ته ته ډېر زیان رسولای شي. دلته د خلکو کرکه لا نوره ورسره زیاتیږي او چې کرکه او نفرت زیات شي، بیا حتماً زیان هم ورته رسولای شي. افغان حکومت به هم تل داسې ضعیف نه وي، وخت به راشي، چې بیا به د دې هر څه حساب ورکول درته ګران شي.
دغه ډول چلند افغانان اړ کوي، چې بیا د پاکستان پر ځای پر نورو هېوادونو ډېره تکیه وکړي، چې دا صورت هم د پاکستان په زیان دی.
بل دا چې دغه ډول چلند به افغانان اړ کړي، چې تر خپله وسه له پاکستانه راتول او دلته د خودکفایي هڅې وکړي. خو تر دې وروسته افغان حکومت هم کولای شي، چې له پاکستان سره د تېر ګاونډیتوب پر اساس تعامل وکړي.
نو پاکستاني مسؤلین دې د جوش پر ځای له هوشه کار واخلي، له خوږ ګوتې دې نیول نه کوي، د سبا ورځې په اړه دې فکر وکړي. داسې پایسي دې غوره کړي، چې دواړه هېوادونه یو له بل څخه ګټه واخلي. افغانانو ته دې د تګ راتګ لازم سهولتونه برابر کړي، د تجارت او ترانزیټ برخه کې دې هم داسې سهولتونه برابر کړي، لکه افغانستان کې چې د دوی ترانزیټ ته برابر دي.
که پاکستان خپله پالیسي کې مثبت تغیر راولي، دواړو هېوادونو ته به یې په هره برخه ډېره زیاته نفع ورسوي، مګر که همدغه شان منفي سیاست دوام وکړي، اړیکې به لا پسې خرابې او نړیوال شیطانان به خدای مه کړه، دغه سکروټې په یو لوی اور بدلې کړي.
فاعتبروا یا اولي ألالباب!

# وظایف اکسپرتیز طب عدلی

**محمد فیاض حیدری**

شواهد ومدارک اثباتیه که منشاء بیولوژیکی ندارد آلات و اشیای که توسط آن جرم صورت گرفته و یا در مورد واقعه و چگونگی واقعه معلومات میدهد مانند اسلحه، آلات جاریه و امثال آن که ازنظر پولیس علمی مورد مطالعه و بررسی قرار میگیرد.مدارک اثباتیه که منشاء بیولوژیکی دارد مانند خون، سپرم، موها، لعاب دهن، ادرار، مواد غایطه، شیر، مایع امینوتیک، پارچه های نسجی و سایر افرازات عضویت انسان که در طب عدلی مورد مطالعه و بررسی قرار میگیرد.در صحنه های جنایی یکی از دلایل مادی برای اثبات جرم خون است بعد از سال ۱۹۰۱ با کشف گروپ های خون و خاصتاً با پیشرفت تکنالوژی جدید به خصوص معاینات یک لکه خون هویت اصلی قاتل ویا مجنی علیه تشخیص میشود. در کشور های پیشرفته جهان از نظر علمی با کشف DNA گفته میتوانیم که خون هم مثل نشان انگشت یک علامه منحصر به فرد بوده از روی یک لکه خون هویت شخص قابل تعین و تشخیص است. از همین سبب امروز در کشور های پیشرفته جهان تقاضا و نیاز مندی برای تأسیس یک آرشیف ملی برای تمام اتباع یک کشور بوده تا در پهلوی کارت هویت و آرشیف نشان انگشت یک آرشیف ملی DNA را هم در آشیف های خود شامل بسازند تا در واقعات جنایی با دریافت لکه خون و مقایسه آن از طریق آرشیف ملی مجرم اصلی آن بدون ضیاع وقت مشخص و از طریق قانون به میز عدالت کشانیده شود. خون یک ماده حیاتی لزجی دارای رنگ سرخ و ذایقه شور میباشد و دارای بوی خاص بوده که هر قدر وزن جسم شخص بالا میرود به همان اندازه تناسب ظرفیت خون هم بالا میرود اشخاص چاق نسبت به اشخاص لاغر خون زیاد دارد. مثلاً شخصی که شصت و پنج کیلو وزن دارد دارای مقدار پنج هزار سی سی خون میباشد. نقش خون در وقایع جنایی، بنوت، تثبیت اجساد های متلاشی شده واقعات گور های دسته جمعی، سانحه هوایی در شرایط امروز واقعات انتحاری که مشکلات مهم جهانی شده بسیار مهم بوده وبه واسطه معاینه DNA میتوان پارچه های متلاشی شده اجساد را از هم تفکیک نماید حیات داخل رحمی ابتدا اولین قطره خون توسط کیسه زرد تولید شده بعداً در ترایمستر اول این وظیفه به جگر سپاریده شده و بعداً مخ عظم در این عرصه با کبد همگام گردیده و بعد از تولد وظیفه تولید خون مختص به مخ عظم میشود خون از دو قسمت جامد (کرویات خون) و مایع ( پلازماءخون) ساخته شده قسمت مایع خون که ۵۵٪ خون را ساخته یک مایع نسبتاً زرد رنگ بوده و وظیفه انتقال کرویات و هم چنان بعضی مواد کیمیاوی مورد ضرورت دیگر عضویت را به عهده دارد. قسمت جامد خون ۴۵٪ خون را تشکیل داده شامل کرویات سفید، کرویات سرخ، صفحات دمویه میباشد. کرویات سرخ خون عبارت ازحجرات فاقد هسته بوده که وظیفه خطیر انتقال آکسیجن بواسطه هیموگلوبین موجود در آن صورت میگیرد. مقدار کرویات سرخ خون نظر به احتیاج مصرف آکسیجن هر شخص متفاوت میباشد به اساس قیاس در شخص سالم مرد در هر ملی متر مکعب در حدود پنج میلیون کرویه و در اناث درهر ملی متر مکعب چهارلک وهفتاد هزار و در نوزادان شش میلیون کرویه موجود میباشد. در داخل خون یک سیستم دفاعی قوی در مقابل انتانات، ویروس ها و دیگر اجسام اجنبی وجود دارد که بنام انتی کور یاد میشود و این انتی کور ها در مقابل هر مکروب متفاوت میباشد.خون یکی از انساج مایع و مهم عضویت بوده که در تمام وقایع جروح ناشی از صدمات جسمی از بدن سیلان و به اشیا و محیط مجاور تماس کرده سبب تشکیل تجمعات، قطرات، آلودگی ها ولکه ها میشود. خون نظر به خصوصیات خود اساس معاینات لابراتواری بیوشمی را تشکیل داده بناً خون یکی از دلایل مهم و غیر قابل انکار است که در اکثر صحنه های جرم به یکی از سه حالت (مایع، خشکیده و شسته شده ) موجود بوده با معاینات و تحقیقات آن میتوان اطلاعات زیادی در مورد جرم مجرم کسب کرد. خون یک مایه سرخ رنگ بوده زمانیکه از بدن خارج میشود مایع و رنگ آن سرخ بوده اما بعد از سپری شدن چند دقیقه بسته شده بنام علقه خون یاد میشود و اگر بالای اشیای مانند تکه باب و سامان آلات جذب گردد لکه یی از خود بجا میماند که بنام لکه خون یاد میشود لکه خون دارای رنگ سرخ مایل به قهوه یی بوده اما زمانیکه بالای بعضی اشیا قرار گیرند رنگ اصلی خود را باخته به رنگ سیاه الی سبز یا خاکستری تحول مینماید علت آن منحل شدن رنگ اشیا میباشد مثلاً قرار گرفتن خون بالای کاغذ که دارای رنگ قهوه یی طلایی رنگ باشد از سبب اکسایدیز شدن به رنگ لکه سبز تظاهر مینماید اما بعضاً زمانیکه خون بروی تکه های دارای رنگ های تیز و یا سرخ قرار بگیرد قابل تشخیص نبوده لذا در این حالات از چراغ های قوه بسیار روشن جهت تشخیص لکه استفاده میشود.

## مرد آزاد

**محمدصادق طارق**

مرد آزاد تا ابد آزاد بود
در درون عشق خود آباد بود
مرد آزاد می‌شکند زنجیر را
سر فرود سازد به خود تدبیر را
مرد آزاد درس عشق و زندگی
مرد غازی دور بود از برده‌گی
مرد آزاد جمله‌گی را خم کند
در فراقش چشم‌ها را نم کند
مرد آزاد استوار در هر ستم
هیچ زمانش را نیابی سر به خم
مرد آزاد « طارقا» نوکر نشد
زو حریفش هیچ زمان برتر نشد

## مزار!

**د ګل پاچا الفت له غوره نثرونو**

کور په کور او کلي په کلي به ګرځېدمه او د خدای په نامه به مې څه غوښتل.
چا به یو موټی ناپاکه غله راکړه او چا به سوې ډوډۍ راکوله، ډېرو کورونو به ځواب راکاوه او ځینو به په دروازه کې هم نه پرېښودم.
څو ورځې د یوه او بل له درګاه نه وږی او بېنوا راغلم.
هیچا هیڅ رانکړه، له ټولو خلکو نه مې زړه بد شو، دنیا ته مې په کرکه وکتل، خدای ته مې رجوع وکړه او په دغې کوټنۍ (قبر) کې پرېوتم.
هغه چې زه به یې په دروازه کې چا نه پرېښودم اوس ما ته لاس په نامه ولاړ وي، له ما نه څه غواړوي.
زما په نامه زما کوټنۍ ته هر څه راوړي او د خدای په نامه خوارانو او غریبانو ته سوې مړۍ هم نه ورکوي.

## روژې ته!

**ګل رحمان رحماني**

څه له جلاله ډکې، څه جمالي شېبې دي
د ځمکې رنګ به لري، خو اسماني شېبې دي
سترګې له خوبه ډکې، په ژبه یاد د جانان
زړه کې سرور په څپو، هو؛ طلایي شېبې دي
نه اندېښنې او وېره، نه د دنیا تصور
څه له پرتمه ډکې، څه جنتي شېبې دي
محبوب نږدې راغلی، د زړګي ور ټکوي
باید ور پاڅېږمه، د هرکلي شېبې دي
ټپي زړګي ته راوړم، بیا یو سپېڅلی مرهم
بېخي د ژوند په بیه، کله عادي شېبې دي
د روژه ماتي مزه، په بل طعام کې نشته
په ځینو ډېرې سختې، د پېښنمي شېبې دي
د جانان غږ پرانېستې، وخت د لیدن راغلی
د بې ریباره مینې، امتحاني شېبې دي

# دغوره شخصیت جوړوني پنځه بنسټونه

**پوهنیار څارمن نورجمال وردګ**

**۱ـ مور او پلار**

د مور او پلار غېږ د ماشوم د روزنې ښوونځی دی، په دې وخت کې د ماشوم فکري کڅوړه تر بل هر وخت خالي وي څه چې له خپل مور او پلار څخه اوري او یا ویني هغه له ځان سره خوندي کوي، چې په همدې توګه ماشوم مثبت او یا منفي روزل کېږي.

کله نا کله مور او پلار د خبرو پر وخت بېلابېل توري کاروي، هغوی وایي:

ته خو ډېر لټ یې.

ته ولې هغه کار نشې کولای چې پر تا لازم دی؟

ته بې نظمه یې، ته خو ډېر نا غېږه او لټ یې لکه فلانی.....

دوکتور تشاډ هلیمستر په خپل کتاب ( له خپل ځان سره د خبرو پر مهال ته څه وایې؟) کې لیکلي دي: د یوې روزونکې کورنۍ له خوا خپل ماشوم ته په لومړي ۱۸ کلونو کې تر ۱۴۸۰۰۰ زیات ځله ( نه ) او ( مه کوه) ویل کېږي. او دی په همدې کتاب کې لیکي چې: په همدې موده کې مثبت ځواب تر ( ۴۰۰ ) ځله ډېر نه وي.

طبعآ په داسې چلند کې مور او پلار ګرم نه دي، بلکې له بده مرغه دوی له اولاد سره د غوره چلند څخه نا خبره وي، ځکه دوی خپله همداسې روزل شوي وي چې په همدې ډول دوی هم له ارادې پرته خپلو اولادونو ته منفي روزنه ورکوي؛ خو سره له مینې.

هوښیاران وایي: ماشوم لویول د اوسپنې چیچل دي، هره کورنۍ د خپلو ماشومانو د روزنې دنده پر غاړه لري، که هغوی خپلو ماشومانو ته داسې چاپېریال برابر کړي چې د ماشوم د ښې روزنې لامل ګرزي؛ نو ماشومان به د خپل مور او پلار د هیلو سره سم وده کوي؛ نو ځکه مور او پلار باید د ماشوم ورځني کړه وړه په دقیقه توګه وڅاري، د هغوی سره په ورین تندي خوږې خبرې وکړي او تل داسې توري ورته وکاروي چې دوی ته روحي ډاډ ور ښښي او په زړونو کې مینه کړي او باید د ورځې په یوه ځانګړې برخه کې د خپلو ماشومانو د کړو وړو پوښتنه وکړي ترڅو دوی پوه شي چې زموږ هر ډول کړه وړه څارل کیږي او که د دې بر عکس یوه کورنۍ د ماشوم کړنو ته هېڅ پام نه کوي او په بې پروایی سره یې خپل سري پرېښې وي؛ نو پره به یوازې د مور او پلار او کورنۍ پر مشرانو وي.

**۲ـ ښوونځی**

ښوونځی هغه بنسټیزه تربیتي ځاله ده چې زده کوونکي ته په کې د خپل راتلونکي پانګه برابرېږي، په همدې ځاله کې زده کوونکي د خپلو استادانو لار ښوونې تر لاسه کوي، د هغوی څخه روحي او معنوي انرژي اخلي، هغوی کړه وړه څاري او په خپله حافظه کې یې خوندي کوي؛ نو استاد چې له زده کوونکو سره څه ډول چلند کوي هماغسې به دوی روزل کېږي، ډېر ځله داسې هم کیږي چې زده کوونکي په همدې ښوونځي کې له کومې ترخې خاطرې سره مخ شي، د بېلګې په توګه: که یو زده کوونکی د خپل استاد په درس پوه نشي او استاد یې په ځواب کې ورته وایي: ته تل په درس نه پوهېږې..... او پوښتنې کوې. نور ټولګیوال چې د زده کوونکي دا حالت ویني؛ نو خاندي او په ده پورې به ملنډې وهي؛ نو کوم زده کوونکی چې ډېری وخت له داسې ستونزو سره مخ کېږي هغه به د منفي اغېزو ښکار وي، په حقیقت کې مکتب په روزنه او شخصیت جوړونه کې دوه یم بنسټ دی چې ډېری وخت مثبت او کله منفي هم وي.

**۳ـ ملګري:**

ملګری په اساسي ډول پر خپل ملګري بشپړ اغېزلري، له یو بل نه مثبت او منفي فکر خپلوي؛ نو که ستا د ملګري کړه وړه منفي وي پر تا به هم هرومرو منفي اغیز کوي لکه: په مخدره توکو باندې روږدي کېدل، ناوړه خبرې کول، له ښوونځي تېښته کول او داسې نور .... او که ملګری دې نېک وي او ښه اخلاق ولري؛ نو پر تا به هم ښه اغېز کوي او ته به هڅه کوې چې د ده نېک خویونه خپل کړې.

په حقیقت کې هر انسان د خپل ملګري چلند خپلوي په تېره بیا د ۸ ـ کلنۍ نه تر ۱۵ کلنۍ پورې، دا هغه عمر دی چې اروا پوهان ورته د نورو کړه وړه خپلولو موده وایي، په دې موده کې ماشومان تقلیدي فکر لري او دنورو خلکو سلوک خپلوي.

**۴ ـ خپروني:**

خپرونې راډیویي وي که تلویزوني او که ورځپاڼې دي د اورېدونکو او لیدونکو پر سلوک بشپړ اغېز لرلای شي، خپرونې د شخصیت په جوړونه کې کارنده ونډه لرلای شي، د دې پر ځای چې په خپرونو کې خراب فلمونه یا نا وړه ډرامې خپرېږي باید دیني خپرونې، د عالمانو ویناوې، غوره مجلسونه او د ماشومانو د ښوونې او روزنې پروګرامونه خپاره کړل شي؛ نو ټولنه به له ډېرو فسادونو څخه وژغورل شي، په کومه ټولنه کې چې په دې اړه بې پروایي وکړي د هغوی ځوان نسل د ناوړه کړنو ښکار کیږي.

په امریکا کې یوه سروې شوې ده چې مالومه کړي ځوانان څه ډول ژوند تېروي، په پایله کې ثابته شوه چې ځوانان په اونۍ کې ۳۹ ساعته یوازې د تلویزون په کتلو تېروي او کله چې یو ځوان په تلویزون کې یو څه وګوري او ترې اغېزمن شي؛ نو هماغه څه کوي چې هلته یې لیدلي وي که څه هم هغه ډېر بد سلوک وي.

**۵ ـ ته په خپله:**

د تېرو څلورو بنسټونو سره سم ته کولای شې خپل ځان ته په خپله موخه وټاکې او هغه څه وکړې چې ستا په ګټه وي او خپل راتلونکی پرې روښانه کړې.

دوکتور ابراهیم الفقي په خپل کتاب ( په ځان باور څنګه ترلاسه کولای شو؟) کې لیکلي دي: یو ځل په یوه ناسته کې د شخصیت جوړونې په اړه وینا کوله؛ نو یوې ګډونوالې میرمنې راته شکایت وکړ چې مور او پلار یې ورسره هېڅ مینه نه کوي او په ټول ژوند یې د دوی دواړو مینه نه ده په برخه شوې او داسې یې انګېرله لکه چې هېڅوک ورسره مینه نه کوي او په دې پراخه نړۍ کې یې د یوازیتوب احساس کاو چې له همدې امله یې ډېر بد خویونه خپل کړي و، ډېره دوړۍ به یې خوړله چې له امله یې د دې وزن زیات شوی و، عمر یې ۳۸ کلونو ته رسېدلی وو، خو بیا هم په دې ګڼ مېشته نړۍ کې لا لهانده او سرګردانه وه، غونډې ته په دې هیله راغلې وه چې که همدا ستونزه یې حل شي، له خبرو وروسته مالومه شوه چې دا خویونه دې له خپل چاپېریال څخه خپل کړي وو.

نو شونې ده چې له ځان سره فکر کول او ستا خپل کړه وړه ستا نه یو نېکمرغه انسان جوړ کړي او ټولې هیلې دې پوره کړي او یا دې ستومانه او ناهیلی د بدمرغه ژوند کندې ته ور ټېل وهي؛ په همدې اړه دوکتور هلمستر وایي: ته چې کوم شی په خپل ذهن کې ساتې، ښه وي او که بد په پایله کې به هرومرو ورسره مخ کېږې.

**سر چینې:**


١ ـ احمدی، علی اصغر، ١٣٧٢، روانشناسی شخصیت از دیدګاه اسلام، تهران، امیر کبیر

٢ ـ نجاتی حسین، روانشناسی کودک، ١٣٨٨، انتشارات بیکران، تهران

٣ ـ انترنت


# افـغـان اعـلانات

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم شکر الله فرزند حبیب الله ولدیت ملا قمبر علی خان دارنده تذکره نمبر ( ۸۳۸۴۵۸ ) (جلد ۴ ق ذکور ۸۹ صفحه ۶۷ ثبت ۴۳۴) مسکونه اصلی ولایت غزنی مالک امتیاز دواخانه لطف الله شاکر واقع ولسوالی جاغوری ولایت غزنی طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد عمر مرادی فرزند محمد ظاهر ولدیت محمد مراد دارنده تذکره شماره ( ۰۳۳۶۰-۱۰۰۰۱-۱۴۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت بامیان گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۳۳۵

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم سید فرید فرزند سید سلطان علی ولدیت سید میر حسین دارنده تذکره نمبر ( ۹۰۹۶۶ ) مسکونه اصلی ولایت غزنی مالک دواخانه هاشمی زاده واقع ناحیه سوم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم عبدالواحد فرزند سلام الدین ولدیت رجب باقی دارنده تذکره شماره ( ۱۱۶۵۲۹۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت بلخ گردیده است

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۳۴۰

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم محمد یحیی جویا فرزند حاجی حمید الله ولدیت عبدالودود دارنده تذکره نمبر ( ۲۶۸۲۲-۰۲۰۱-۱۴۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت تخار مالک امتیاز دواخانه یحیی واقع ناحیه سوم ولایت تخار طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم سید کبیر سادات فرزند سید حسن سادات ولدیت سید طوره سادات دارنده تذکره شماره ( ۰۱۶۷۰-۰۸۰۱-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت تخار گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۳۳۴

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم عبدالبصیر کوتوال فرزند محمد حسین کوتوال ولدیت محمدا گل کوتوال دارنده تذکره نمبر ( ۸۶۱۲۲-۰۱۰۱-۱۴۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت ننگرهار مالک دواخانه اطهر واقع ناحیه هشتم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم سید نجیب هاشمی فرزند سید داود هاشمی ولدیت میر اکبر خان هاشمی دارنده تذکره شماره ( ۶۰۸۸۲-۱۲۰۲-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت کابل گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۳۳۲

***

**اطلاعیه مفقودی**

نکاح خط شرعی دارای نمبر به اسم حاجت خوشحال خیل فرزند سیدا جان و محترمه ظریفه خوشحال خیل بنت تحصیل خان مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۴۳

***

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه جواز کار اتباع خارجی تبعه کشور پاکستان به اسم عابد علی مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۴۲

***

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه جواز کار اتباع خارجی تبعه کشور پاکستان به اسم عدنان شوکت مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۴۱

***

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی دارای ویزه کشور عربستان سعودی به اسم معلم فرزند علی جان مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۳۱

***

**اطلاعیه دعوت به داوطلبی**

((شرکت دولتی تخمهای اصلاح شده بذری و خدمات زراعتی تهیه و تدارک خریداری تعداد (۲) دو پایه ماشین تخم پاک ضرورت آمریت های نمایندگی ولایات هرات و بلخ را بعد از پروسه داوطلبی که به تاریخ ۱۶/ثور/ ١٤٠٢ به ساعت ده بجه قبل از ظهر در دفتر مدیریت عمومی اداری و منابع بشری شرکت واقع بادام باغ کابل مقابل بلاک های تهیه مسکن تحت نمبر تشخصیه MF/SOSC/NCB/G 02 /1402 دایر میگردد.

تماماْ شرکت های خصوصی و دولتی و سایر اشتراک کننده گان می توانند شرطنامه را طبق قانون و طرز العمل تدارکات را از شرکت اخذ و افر های خویش را بروز افرگشاهی ارایه نمایند افر های ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد تضمین برای دو پایه ماشین تخم مبلغ (۱٦١٣٦٠٠) افغانی طبق شرطنامه و شرایط اهلیت ماده (۱۷) قانون تدارکات عامه میباشد.

داوطلبان می توانند شرطنامه را در فلش از مدیریت خدمات و تدارکات آمریت اداری و منابع بشری شرکت بطور رایگان بدست آورند.

جلسه قبل از داوطلبی ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر مورخ ۷/ثور/١٤٠٢ در مدیریت خدمات و تدارکات شرکت دایر میگردد))۳۳۳

***

**اعلان مجدد دعوت به داوطلبی**

اسم پروژه : تدارک سه نوع تیل ، گاز مایع و چوب سوخت مورد نیاز وزارت اقتصاد بابت سال مالی ۱۴۰۲

شماره تشخیصیه :MOCE-KLB-1402-NCB-G03

وزارت اقتصاد از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه فوق الذکر اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه مربوطه را بطور رایگان بدست آورده و آفرهای خویش را طبق قانون و طرز العمل تدارکات و شرایط مندرج شرطنامه ،ترتیب نموده و با تمام ضمایم آن طور سر بسته ، الی ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر مورخ ۱۴۰۲/۲/۱۶ به محل آفرگشایی ارایه نمایند.

قابل یاد آوری است که آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیریش نمی باشد.

تضمین آفر مبلغ ۴۳۰،۰۰۰ چهار صد و سی هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز شنبه مورخ ۱۴۰۲/۲/۱۶ در منزل تحتانی ، وزارت اقتصاد واقع چهار راهی ملک اصغر ،مقابل وزارت امور خارجه ، تدویر میگردد.۳۳۸

***

**اعلان دعوت به داوطلبی**

موضوع: در مورد اعلان داوطلبی یک قلم گوشت گوساله مورد ضرورت لیسه ها و انستیتوت وزارت .

شماره داوطلبی : MOBTA/1402/NCB/) .(OPT/G.003

وزارت امورسرحدات، اقوام و قبایل ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی یک قلم گوشت گوساله اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه را بطور سافت (درفلش) از آمریت تدارکات اداره مربوطه بدست آورده ،آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات به طوری سربسته از تاریخ نشراعلان الی (۲۱) روز تقویمی راس ساعت (۹:۳۰) قبل ازظهر که ضرب الاجل تسلیمی آفرها می باشد. درصندوق آفرها در ریاست تدارکات انداخته و در جلسه آفرگشائی راس ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهرحاضر گردند. آفرهای نا وقت رسیده و انترنتی قابل پزیرش نمی باشد.

داوطلبان می توانند شرطنامه را از آدرس: ناحیه ۹، سرک میدان هوائی، ریاست تدارکات منزل تحتانی وزارت امورسرحدات، اقوام وقبایل به دست آورند، و تضمین آفرمبلغ (٥١٦،٠٠٠) پنج صدوشانزده هزارافغانی به شکل پول نقد یا تضمین بانکی در داخل آفرسربسته خویش ارائه دارند.

***

**اعلان دعوت به داوطلبی**

موضوع: در مورد اعلان داوطلبی (٤٢) قلم قرطاسیه باب مورد ضرورت وزارت امورسرحدات، اقوام وقبایل .

شماره دعوت به داوطلبی:

.(MOBTA/1402/NCB/OPT/G.004)

وزارت امورسرحدات، اقوام و قبایل ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (٤٢) قلم قرطاسیه باب اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه را بطور سافت در فلش از آمریت تدارکات اداره مربوطه بدست آورده ،آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه ،طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طورسربسته از تاریخ نشراعلان الی (۲۱) روز تقویمی رآس ساعت (۱:۳۰) بعد ازظهر که ضرب الاجل تسلیمی آفرها می باشد. درصندوق آفرها در ریاست تدارکات انداخته و در جلسه آفرگشائی رآس ساعت (۲:۰۰) بعد از ظهرحاضر گردند. آفرهای نا وقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

داوطلبان می توانند شرطنامه را از آدرس: ناحیه ۹، سرک میدان هوائی، ریاست تدارکات منزل تحتانی وزارت امورسرحدات، اقوام وقبایل به دست آورند، و تضمین آفرمبلغ (۱۵۰،۰۰۰) یک صد و پنجاه هزارافغانی به شکل پول نقد یا تضمین بانکی در داخل آفرسربسته خویش ارائه دارند.

## کار بندهای بخش آباد و کمال خان ...

جامع را در این خصوص به کمیسیون اقتصادی پیشکش نمایند.دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا روز گذشته با نشر این خبرنامه‌یی گفت: نشست کمیسیون اقتصادی به ریاست ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء برگزار شد. در این نشست بعد از بحث فیصله شد که وزارت‌ها و ادارات ذیربط بعد از توشیح بودجه مربوط، کار باقی ماندهٔ بند بخش آباد ولایت فراه و بند کمال خان ولایت نیمروز را با سرعت ببخشند.همچنان در نشست گزارش ارائه شده و پیشنهادات مرتبط به آن از طرف وزارت مالیه مبنی بر تطبیق فرمان امیرالمؤمنین ‹حفظ الله› در مورد فعال ساختن منابع عایداتی تایید و فیصله بر آن شد تا با مقام عالی رهبری شریک گردد.در این خصوص به معاونیت اقتصادی و وزارت مالیه وظیفه سپرده شد تا در حصه فعال نمودن این منابع عایداتی بیشتر سعی نمایند. همچنان جهت تقویت منابع عایداتی به تمامی وزارت ها و ادارات هدایت داده شد که راهکار خویش را غنی و با معاونیت اقتصادی شریک کنند. در این نشست به ریاست اداره ملی غذا و ادویه وظیف سپرده شد کمیته‌یی که از نماینده‌های ریاست عمومی استخبارات، وزارت های صنعت و تجارت، مالیه، زراعت، آبیاری و مالداری، ایجاد نمایند تا راهکار جامعی را به منظور جلوگیری از واردات مواد خوراکی و ادویه‌یی بی کیفیت و غیر قانونی، به کمیسیون اقتصادی پیشکش نمایند. بعد از همین فیصله کمیسیون اقتصادی تمامی شرکت‌ها و تاجران مکلف گردیدند تا تمام واردات خود را در ظرف یک و نیم ماه مطابق اصول اداره ملی غذا و ادویه عیار کنند، اگر بعد از مدت تعیین شده از واردات مواد خوراکی و ادویه‌یی بی کیفیت اجتناب نه نمودند با آنها بر خورد قانونی خواهد شد. همچنان در نشست به هدف رسانیدن برق به ولسوالی های قوش تیپه و درزآب جوزجان به اعضای کمیته تخنیکی ایجاد شده از سوی شرکت برشنا وظیفه داده شد تا به ولسوالی های یاد شده سفر نمایند و موضوع تمدید شبکه برق در ولسوالی‌های یاد شده از نزدیک بررسی و گزارش خویش را جهت تصمیم‌گیری به کمیسیون اقتصادی ارائه دارد. در پایان نشست طرح شاروالی کابل مبنی برقرارداد پروژه‌های مشارکت عامه و خصوصی زمین های مناطق مربوط به سینمایی بهزاد، ساحه مقابل این سینما و عقب قاضی پلازا در مکروریان سوم از طریق داوطلبی آزاد تائید گردید.

## له پاکستانه د افغان ...

هېواد ته نه‌شي تللی. خو د تورخم انتظامي چارواکي وايي، تر اوسه ورته لوړپوړو چارواکو هم د سفري محدودیتونو د نرمولو امر نه‌دی کړی، نو ځکه د قانون له مخې بې له پاسپورټ او ویزې هېچا ته د تگ راتگ اجازه نه‌شي ورکولای.

## نمایندگی‌های سیاسی و نهادهای خیریه با اطمینان ...

سرتاسری در افغانستان تامین است و نمایندگی‌های سیاسی و نهادهای خیریه می‌توانند با اطمینان کامل به کار و فعالیت شان ادامه دهند.وی از همکاری‌های جامعه بین‌المللی برای مردم افغانستان تشکر کرد و خواهان ادامه چنین همکاری‌ها شد.
مولوی امیرخان متقی وزیر وزارت امور خارجه گفت که در جریان ۲۰ ماه گذشته روابط و تعامل امارت اسلامی با جامعه جهانی خوب بوده است و امیدواریم که مشکلات موجود نیز به تدریج حل گردد.سرپرست وزارت امور خارجه یکبار دیگر بیان داشت که از خاک افغانستان هیچ تهدیدی متوجه هیچ کشوری نیست. مولوی متقی از دستآوردهای کمسیون تماس با شخصیت‌های افغان یادآوری کرده گفت: تا اکنون ۵۲۹ تن از مقامات پیشین و شخصیت‌های مطرح افغان از کشورهای مختلف به افغانستان برگشته اند.در این ضیافت خانم روزا انتبایوا، نمایندهٔ خاص سرمنشی سازمان ملل متحد برای افغانستان ضمن تشکر از دعوت معاون سیاسی ریاست الوزراء بخاطر ترتیب ضیافت افطاری وامنیت خوب در افغانستان ابراز خرسندی کرد.

## ۱۵ میلیون دالر برای تقویت ارزش پول افغانی امروز ...

خبرنامه‌یی، از بانک‌ها و شرکت‌های صرافی و خدمات پولی واجد شرایط خواسته‌است که در این داوطلبی شرکت کنند و برندگان لیلام مکلفیت دارند، تا حسابات شان را تا ختم روز تصفیه کنند. در خبرنامه هم‌چنان گفته شده است که تسویهٔ قسمی معاملات مجاز نیست و برندگان لیلام مکلف‌اند که پول ذمت خویش را یک‌مرتبه به طور نقدی در مدت زمان معینه تحویل د افغانستان بانک، کنند. این در حالی است که هفتهٔ گذشته نیز د افغانستان بانک، برای تقویت بیشتر ارزش پول افغانی، ۱۵ میلیون دالر را به طور لیلام به فروش رساند.

## په پکتیا او خوست کې د نویو ...

بهیر پیل کړی، چې ورسره به د زده کوونکو د کتابونو د کمښت ستونزه په بشپړ ډول حل شي.
د دغه ولایت د پوهنې رئیس مولوي عبدالوکیل خالد د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې په دغه ولایت کې د پوهنې وزارت هدایت سره سم یې د زده کوونکو د قرطاسیې ستونزه هم حل کړې او هم د ۴۰۰ زره درسي کتابونو د وېش بهیر پیل شوی، چې ورسره به د زده کوونکو د کتابونو د کمښت ستونزه په بشپړ ډول حل شي.
خالد زیاته کړه، چې په دغه ولایت کې ټول ۴۰۰ ښوونځي شتون لري چې له ډلې یې ۱۰۰ لیسې، ۸۷ منځني او پاتې یې لومړني ښوونځي دي.
د یو بل خبر له مخې، د خوست د پوهنې ریاست مسوولین پر دولتي ښوونځیو د نویو درسی کتابونو د وېش د پیل خبر ورکوي.
د یادو کتابونو د وېش پرمهال د پوهنې وزارت استازي زاهد سلیمي باختر آژانس ته وویل، چې د خوست لپاره له لومړي تر دولسم ټولگی په پښتو او دري ژبو ۱.۱ میلیونه ټوکه کتابونه په نظر کې نیول شوي، چې له دې ډلې یې ۵۰۱ زره او ۱۳۶ ټوکه کتابونه د یاد ولایت د پوهنې ریاست ترلاسه کړي او پاتې نور به هم ژر ورته وسپارل شي.
سلیمي زیاته کړه، چې د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د ټول هېواد لپاره ۳۹ میلیونه ټوکه کتابونه په هندوستان کې چاپ شوي، چې د کرونا ناروغۍ له امله په هغه هېواد کې ځنډېدلي وو.

## حاصلات عناب در سال گذشته به چهار هزار و ...

طی یک سال گذشته به چهار هزار و ۶۰۰ متریک تن می‌رسد. در خبرنامه آمده است: فراه به تنهایی چهار هزار و ۳۸۲ متریک تن عناب حاصلات داشته و بقیه از ولایت‌های هرات، لغمان، نورستان و نیمروز جمع‌آوری شده است. گفتنی است، به گونهٔ مجموعی یک هزار و ۴۱۹ هکتار زمین در کشور تحت پوشش باغ‌های عناب است و وزارت زراعت، آبیاری و مالداری می‌خواهد در همکاری با باغداران، باغ‌های این میوه را گسترش دهد.

## دفتر ریاست الوزراء با کمیته‌های ریاست ...

و تیم‌های توظیف شده که بر بنیاد سکتورها تنظیم شده اند، صحبت کردند.
ریاست عمومی تعقیب و نظارت از فرامین و احکام به جای اداره پشین لوی څارنوالی و به اساس فرمان شماره ۵۲۳ مورخ۱۴۴۴/۸/۲۸ رهبری در چهار فصل و ۲۸ ماده توشیح شده است، ایجاد گردیده است.
به گفتهٔ هیئت؛ مجموعا ۱۵ سکتور و برای هر سکتور یک ریاست مانند حکومتداری، اقتصاد، امنیت، صحت و غیره ایجاد شده است.
داکتر ملا عبدالواسع؛ تلاش‌های آنان را در راستای شفافیت بیشتر و بهبود کار در ادارات رسمی مهم خواند و از همکاری و حمایت ریاست الوزراء برای آنان اطمینان داد .

## په هلمند کې ګڼې ...

لګښت ۱۷ پراختیایي پروژې د ښاروالۍ له لوري پیلېږي.
هغه زیاته کړه، چې په یادو پروژو کې د څلورلارو جوړل، سړکونو ترمیم، کمربندونو بیا رغول، کثافاتو ایستل، د ناحیو لپاره لمریزې برېښنا سېستم برابرول او د یو شمېر پارکونو رغول شامل دي.

## د نورستان او سرپل د کانونو ریاست په ...

د سرپل والي محمد یعقوب عبدالرحمن اکـه د یاد ولایت د کانونو ریاست کرڼې وستایلې او ټینګار یې وکړ، چې کانونه د افغانستان ملي شتمني ده او د افغانستان د اسلامي امارت د کانونو له بېلابېلو برخو څخه د اغېزمنې استفادې او دوامدارې ساتنې په موخه هڅه کوي چې د کانونو په سکتور کې له خپلو عوایدو څخه د اقتصادي ودې او د ټولګټو پروژو په پلي کولو کې چټکتیا او شفافیت رامنځته کړي.
د یو بل خبر له مخې، د نورستان د کانونو او پټرولیم ریاست مسوولین وایي، چې تېر ۱۴۰۱ ه ش کال یې ۱۰ میلیونه، ۶۳۲ زره او ۲۸۰ افغانۍ عواید راټول او د دولت خزانې ته جمع شوي دي.
د دغه ولایت د کانونو او پټرولیم رییس مولوي سید الرحیم عمیر باختر آژانس ته وویل، چې تېر کال د مستوفیت اداري له خوا ورته ۲ میلیونو او ۳۰۰ زره افغانۍ هدف ورکړل شوی و، چې دوی له ټاکل شوي هدف څخه ۸ میلیونه، ۳۴۳ زره او ۲۸۰ افغانۍ زیات عواید راټول کړي دي.
عمیر د عوایدو د زیاتوالي لامل د نورستان ولایت مقام له لوري پرلپسې پاملرنه، په عوایدو راټولولو کې شفافیت او د یاد ریاست د مسوولینو هڅې یادوي.

## لغمان کې د ۱۲.۵ کیلومتره کانال د پاکولو چارې ...

چارې بشپړې شوې دي.
د دغه ولایت د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسوولینو باختر آژانس ته وویل، چې د دغه کانال د پاکولو او تحکیماتو چارې سره صلیب نړیوالې کمیټې په مالي مرسته د ۹ میلیونو افغانیو په لګښت د الینګار ولسوالۍ په خواجه خېل سفلی سیمه کې بشپړې شوې دي.
د مسوولینو په وینا، د دغه کانال چارې د یوې میاشتې په موده کې بشپړې شوې، چې ۳ زره جریبه ځمکه خړوبوي او ۴ زره کورنۍ به ور څخه برخمنې شي.

## د سمرقند غونډې ګډونوالو افغانستان ...

دوی په هېڅ صورت اجازه نه ورکوي چې افغانستان له دې وروسته د منفي ټکرونو او نامشروع رقابتونو مرکز شي.
ده ویلي، اوس د دې زمینه برابره شوې چې افغانستان د سیمه‌ییز اتصال په ټولو پروژو کې، لکه ټرانس افغان رېل پټلۍ، ټاپي، ټاپ، کاسا زر او د چین په ابتکار د یو کمربند او یوې لارې پروژه کې خپل رول ولوبوي.
همدارز مولوي امیرخان متقي په یوه ویډیویي پیغام، سمرقند کې د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په ناسته کې د یادو شوو موضوعاتو او پایلو په اړه خبرې کړې دي.
هغه ویلي، د سمرقند غونډې ګډونوال هېوادونه د افغانستان په تړاو مثبت نظر او په دغه هېواد کې پانګونې ته لېوالتیا لري.
د بهرنیو چارو وزیر په خپل پیغام کې ویلي، چې د ټولو هېوادونو نظرونه مثبت و او لېوالتیا یې وه چې په افغانستان کې ښکېلتیا ولري.

## آغاز کار توسعه بخش دوم سرک کوتل ...

در این مراسم معاون اقتصادی ریاست‌الوزرا ضمن تشویق و حمایت از برنامه‌ها و پلان‌های شاروالی کابل، گفت که در سال‌روان برای توسعه و رشد شهر کابل پروژه‌های متعدد سرک‌سازی تطبیق خواهد شد. وی از شهروندان کابل خواست که در تطبیق پروژه‌های سرک‌سازی با شاروالی کابل همکاری کنند.
در همین‌حال، انجنیر عامر یاسر معین ساختمانی و ترانسپورت شاروالی کابل، در مورد توسعه و ساختمان قسمت دوم کوتل خیرخانه معلومات داد و گفت که سمت چپ سرک کوتل از چوک سرای شمالی تا بازار کوتل به طول سه هزارو ۷۱۰ متر، با عرض ۲۷ متر و با ارزش ۳۷۰ میلیون افغانی در مدت ده ماه در سه شفت کاری (شب و روز) توسعه و ساخت و ساز خواهد شد.
به گفته وی، این سرک شامل شبکه‌های پیاده رو، دیوارهای استنادی، آبرو، تنویر، خط اندازی روی جاده، ایستگاه ها، خطوط و نصب علایم ترافیکی و سایر جزئیات یک سرک معیاری است.
گفتنی است که سرک کوتل خیرخانه مسیر راه ترانزیتی و نقطه وصل بیش از ده ولایت شمال کشور است.

## چین په یو کمربند و یوې لارې سترې پروژه ...

چین ته د افغانستان د صادراتو پر زیاتوالي او ګڼو نورو سیمه ییزو مسایلو خبرې وشوې. مولوي امیرخان متقي په دغه کتنه کې د چین د نوي بهرني سیاست، چې پکې د افغانستان خپلواکۍ، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او دیني او کلتوري انتخابونو ته درناوی شوی، هرکلی وکړ. نوموړي همدارنګه وویل چې چین په سیمه کې مهم رول لري او افغانستان لېواله دی، چې له دغه هېواد سره د اقتصاد، سوداګرۍ او پانګونې په برخه ګډ کار وکړي. په ورته وخت کې د چین د بهرنیو چارو وزیر وویل چې هېواد یې چمتو دی، په ګڼو برخو کې له افغانستان سره مرسته وکړي او د افغانستان امنیت او ثبات د چین لپاره اهمیت لري.
چن ګانګ زیاته کړه، چې چین چمتو دی له افغانستان سره د لارې او کمربند سترې پروژه کې د شاملېدو لپاره مرسته وکړي.
سرچینې همدارنګه وویل چې هېواد یې غواړي افغانستان سره سوداګري پراخه کړي، نوي هوایي دهلیزونه پرانیزي او په راتلونکي کې له افغانستان سره د ځینو وچو او تازه مېوو واردات پیل کړي.
په پای کې دواړو لوریو ژمنه وکړه، چې دوه اړخیزو اړیکو او ښه تعامل ته به دوام ورکوي.

## د افغانستان په رسمیت نه پېژندل سوداګر له ...

دینای بوګاس سره د لیدنې پر مهال کړې دي. مومند ویلي په افغانستان کې د امنیت تامین، د کوکنارو د کښت نه‌شتون او په دولتي ادارو کې د اداري فساد له منځه وړل په هېواد کې د پانګونې لپاره یو ښه فرصت دی. نوموړي له یوناما څخه د مالیاتي خدمتونو د تنظیم، په افغانستان کې د معیاري زیربناوو رامنځته کولو، د کوچنیو کاروبارونو لپاره د معیاري کاري سیستم جوړولو او د هېواد د کرنې میکانیزه کولو برخو کې د همکاریو غوښتنه کړې ده.

## برای بقای نظام آمادهٔ هرگونه فداکاری ...

روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: که مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی با شماری از بزرگان قوم احمدزی دیدار نمود. در این دیدار حاجی ظاهر خان احمدزی به نمایندگی از دیگران صحبت نمود و از امارت اسلامی سپاسگذاری نمود که همیشه دروازه خود را به روی مردم گشوده است و به آنان خدمت می‌کند.وی همچنان به نمایندگی از دیگران گفت: قوم احمدزی همواره از نظام اسلامی در افغانستان دفاع کرده و برای بقای نظام موجود به هرگونه فداکاری آماده می‌باشد. نمایندگان قوم احمدزی یک سری مشکلات شان را نیز با معاون سیاسی ریاست الوزراء شریک ساختند. مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء گفت که دروازه های امارت اسلامی همیشه بر روی مردم باز است و حل مشکلات مردم را احسان به آنان نه، بلکه مسؤولیت خویش می داند. معاون سیاسی ریاست الوزراء در اخیر سخنانش به تمام بزرگان متذکره اطمینان داد که مشکلات شان به خاطر حل با ادارات مربوطه شریک خواهد شد.

## تجار ملی در بخش تمویل پروژه‌های بزرگ ...

اقتصادی ریاست الوزراء نقش صنعت داخلی را در تقویت اقتصاد کشور مهم خوانده و از آنها خواست تا در تمویل پروژه‌های بزرگ اقتصادی و فراهم کردن فرصت‌های شغلی با هموطنان همکاری نمایند. مسوولین اتاق صنایع و معادن گفت، آنها آماده اند که برای تمویل تکمیل کار باقیمانده پروژهٔ انتقال لین ۵۰۰ کیلو ولت برق از شبرغان تا دشت الوان و از آن جا الی ارغندی کابل برای د افغانستان برشنا شرکت ده فیصد پول اضافی در بل‌های صرفیه برق خویش بپردازد، این پول به حساب ویژه جمع آوری و برای تکمیل این پروژه استفاده خواهد شد. قابل یاد آوری است که کار عملی این پروژه در آینده نزدیک آغاز خواهد شد.

## در نشست کمیسیون اداری پیرامون طرح ...

صحت عامه نیز حضور داشت، پیرامون موضوعاتی چون طرح ریفورم، تشکیلات و طرح مالی و بودجوی شفاخانه جمهوریت، انتقال مصؤن وسایل طبی، معاشات و امتیازات متخصصین این شفاخانه بحث‌های همه جانبه صورت گرفت.
همچنان هئیتی موظف گردید تا مکان مناسب جهت تطبیق این طرح تعیین نموده و در مورد استخدام متخصصین نیز طرحی را ترتیب و در جلسه بعدی ارائه نماید.
به همین ترتیب در مورد فعال سازی و ملکیت مطبعه نبراسکا نیز بحث همه جانبه صورت گرفت و به هئیتی وظیفه سپرده شد تا آن را به صورت دقیق بررسی نموده و گزارش خویش را به نشست بعدی کمیسیون ارایه نماید.

## کرنې وزارت دې اصلاح شوي تخمونه ...

ه اړولو بوخت دي وايي، چې د کرنې وزارت دې د بزګرانو ستونزو ته جدي پاملرنه وکړي.

## د سترو قراردادونو د څېړنې پلاوي ...

د یادولو وړ ده، چې یاد پلاوی د افغانستان اسلامي امارت د کابینې له لوري ټاکل شوی، ترڅو ټول ستر قراردادونه تر څېړنې او مطالعې لاندې ونیسي او په پای کې د خپلې څېړنې پایلې په یوه بشپړ راپور کې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي کمیسیون ته وړاندې کړي.

## د اسلامي همکاریو سازمان یو پلاوی ...

دفتر به د ښځو د کار بندیز د حلېدو په اړه له افغان حکومت سره خبرې اترې وکړي.
د دې سازمان د معلوماتو له مخې، ټاکل شوې افغان ولس ته د مرستو رسونې په تړاو هم د سرپرست حکومت له چارواکو سره خبرې وکړي.
د افغانستان لپاره د اسلامي هېوادونو د همکاریو سازمان سفیر محمد سعید العیاش دافغانستاني سرې میاشتې ته د مرستو د تسلیمولو پر مهال وویل ځانګړي استازي یې د اسلامي امارت له چارواکو سره په کتنو کې د بېلابېلو موضوعاتو او په ځانګړې توګه د پراختیایي او اقتصادي چارو، روغتیا او ښوونې او روزنې په تړاو بحثونه کړي دي.

## د سمرقند پرغونډه جدی فکر په کار ...

او ناغیـړي په کې هېـڅ ډول معقوله توجیه نه لـري ، دغه راز دویمه دحکومت لپاره دکورني مشـروعیت ترلاسه کولو موضوع ده چې باید په یوه اسانه عملي او جایز مشـکل تر لاسه شـي. که څه هم د هېواد خپلواکۍ د پردیو او د هغوی دکورنیو غلامانو شـړل او اسـلامي نظام دقیـام پر موضـوع ګرد افغان ولـس ریکی یوه خولـه دی اوهېڅ ډول پوښـتنې ګروېږنې ته حاجـت نه لري خو دا چـې اوس دملت له خوا دولتی انتظامات چاته سپارل کېږي ، دګردې نړۍ تعامل او دستور دادی چې باید څه ناڅه مراسم ترسره اوخپل ملت وپوښتل شي ، په دې لړکې موږ یوه ډېره اسانه او دودیزه نسخه لرو چې دلویې جرګې په نامه له پېړیو راهیسـې په موږ کې رواج اوکاملاً ورسره آشنا یو ، په دې اساس موږته لازمـه ده چې هم دخپل ملـت اوهم د چم ګاونـډ هېوادونو دغه ډول غوښـتنو اوسپارښتنوته مثبت ځواب ووایو او په خپل لاس یوځل بیادغه موندل شـوی فرصت ضایع نه کړو ځکه ګرد افغانان په ړنو سترګو ویني چې همدغو دوو موضوعاتو په ټوله نړۍ کې دافغانستان حیثیت ته خورا ډېر زیان رسـولی اوټول ولس یې له سختو سـتونزو سره مخ کړی دی. موږ باید په یاد ولرو چې موجوده خپلواکي اونظام د ډېرو درنو قربانیو په بدل کې لاس ته راغلی نوسـاتنه یې هم زښته ډېره قرباني، هوښیاري او ځېرکي غواړي خدای دې وکړي چې د سمرقند غونډې نتایج هم دنورو همداسې مجالسـو په شـان زموږ دهمدغو نیمګړتیاو له امله ضایع نه شي، ددغسې غونډو پربحثونو ژور فکر په کار دی.

Shariat
Twice printed in week

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Saturday 15 April 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 158

### کمېسیون اقتصادی ریاست الوزراء:

## کار بندهای بخش آباد و کمال خان تسریع یابد



شریعت: در نشست کمیسیون اقتصادی ریاست الوزراء فیصله گردید تا کمیته‌یی به منظور جلوگیری از واردات مواد خوراکی و ادویه‌یی بی کیفیت و غیر قانونی به ریاست ادارۀ ملی غذا و ادویه و با شرکت نماینده‌های ریاست عمومی استخبارات، وزارت‌های صنعت و تجارت، مالیه، زراعت، آبیاری و مالداری ایجاد گردد تا راهکاری... ص۷

## د ۷۲ میګاواټه برېښنا تولیدي فابریکه جوړېږي



شریعت: د اوبو او انرژۍ وزارت او د عوفي بهرام شرکت ترمنځ د دېرو سکرو له سرچینو څخه د ۷۲ میګاواټه برېښنا د تولید د فابریکې جوړولو په برخه کې د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو. د اوبو او انرژۍ وزارت پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره وویل: چې د دې وزارت سرپرست ملا عبداللطیف منصور، د عوفي بهرام د کانونو د پروسس او استخراج سوداګریز شرکت له مسول سره د دېرو سکرو څخه د ۷۲ میګاواټه برېښنا د تولید د فابریکې جوړولو په برخه کې د پانګونې د ګډې همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک کړ. یاد هوکړه لیک، د دواړو لوریو ترمنځ د پانګونې چارو د انسجام او د یادې پروژې د عملي چارو د پیل د چټکتیا لپاره د ګډې همکارۍ او همغږۍ په موخه لاسلیک شو.

## دعالیقدر امیرالمؤمنین فرمان کې نوې ټاکنې

شریعت: دعالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم پر اساس لاندې ټاکني شوي:
۱- د کار او ټولنیزو چارو وزارت ، د کار او چارو معینیت مخکنی معین مولوي عبدالسلام سعادت ، د پکتیکا ولایت د مرستیال والي په توګه
۲- د پکتیکا ولایت مخکنی مرستیال والي محب الله حماس، د زابل ولایت د مرستیال والي په توګه .
۳- د زابل ولایت مخکنی مرستیال والي سلیمان اغا بهیر، د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د ولسوال په توګه.
٤- د کندهار ولایت د ملکي هوایي ډګر مخکنی رئیس حافظ عصمت الله یعقوب، د تورخم دروازې د کمیسار په توګه وټاکل شول.

## له پاکستانه دافغان کډوالو غوښتنه

په پاکستان کې مېشتو یو شمېر افغانانو د دغه هېواد له حکومته غوښتي چې، په اختر کې دې ورته د کډوالو په کارتونو او تذکرو افغانستان ته د ستنېدو اجازه ورکړي. دوی وایي، د تګ راتګ سختو شرطونو له کبله خپل... ۷مخ

### مولوی عبدالکبیر:

## نمایندگی‌های سیاسی و نهادهای خیریه با اطمینان کامل به کار شان ادامه دهند

شریعت: مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء، در یک ضیافت افطاری، با سفرا و نمایندگان سیاسی کشورهای اوزبیکستان، قزاقستان، قرغیزستان، ترکیه، پاکستان، ایران، اندونیزیا و همچنان خانم روزا انتبایوا، نماینده خاص سرمنشی سازمان ملل برای افغانستان، معاون یوناما و رئیس بنیاد آغاخان، دیدار نمود.
در این ضیافت همچنان مولوی امیرخان متقی وزیر وزارت امور خارجه و سایر مقام‌های ارشد امارت اسلامی نیز حضور داشتند.
مولوي عبدالکبیر در این دیدار گفت: امنیت ... ص۷

## ۵۰۰ جریبه دولتي ځمکه له غصبه خلاصه شوې

په لوګر کې د غصب د مخنیوي او بېرته راګرځولو کمېټې مسوولین وایي، چې په تېره یوه میاشت کې یې نږدې ۵۰۰ جریبه دولتي ځمکه له غاصبینو بېرته راګرځولې ده.
د دغه ولایت د کرنې او غصب د مخنیوي او بېرته راګرځولو کمېټې رئیس مولوي سید امین هاشمي باختر آژانس ته وویل، چې ۴۸۹ جریبه دولتي ځمکه، چې په مرکز او برکي برک ولسوالۍ کې د یو شمېر کسانو لخوا غصب شوې وه، د یوې میاشتې په لړ کې د یاد کمېټې د غړیو په ګډه همکارۍ او هغمرۍ له غصب بېرته راګرځول شوې ده.
هاشمي زیاته کړه، چې د تخنیکي ټیمونو سروې او هڅې دا ښیي، چې په ټولیزه توګه لوګر کې شاوخوا ۵۰ سلنه دولتي ځمکې غصب شوې، چې د بېرته راګرځولو لپاره یې پوره هڅې روانې دي.
نوموړي وویل، چې د بېرته راګرځول شویو ځمکو د غصب په اړوند لسګونه کسان له نیولو وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته ورپېژندل شوي، چې د قوي تضمین تر اخېستلو وروسته خوشي شوي دي.
دا په داسې حال کې ده، چې د تېر کال په موده کې د دغه کمېټې لخوا د دې ولایت د مرکز په ګډون ولسوالیو کې څه باندې ۵۰ زره جریبه دولتي ځمکه د غاصبینو له منګولو خلاصه کړې ده.

## افتتاح دو درب جدید در شفاخانۀ سردار محمد داوودخان

شریعت: دو درب ورودی جدید به منظور ایجاد سهولت برای بیماران و مراجعین در شفاخانۀ سردار محمد داود خان اعمار و افتتاح گردید. این دو درب جدید توسط قاری فصیح‌الدین «فطرت» لوی درستیز قوای مسلح افتتاح گردید. با تکمیل کار این پروژه، مشکلات رفت و آمد وسایط و مراجعین این شفاخانه حل شده است.

## په کندهار کې د لسګونو رواني ناروغانو درملنه شوې

د کندهار د مرستون مسوولین وایي، چې په دغه ولایت کې د تېرو پنځو میاشتو په لړ کې د ۸۰ تنو رواني ناروغانو درملنه شوې ده.
د دغه ولایت د مرستون آمر مولوي راز محمد ریحان باختر اژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د کندهار د سرې میاشتې ریاست د رواني ناروغانو د درملنې له مرکز څخه د ۸۰ تنه رواني ناروغان له درملنې وروسته خپلو کورنیو ته وسپارل شي.
د یادونې وړ ده، چې په دغه مرکز کې اوسمهال شاوخوا ۱۰۷ تنه تر درملنې لاندې، چې له بشپړې درملنې وروسته به خپلو کورنیو ته وسپارل شي.

## د بیات پاوربرېښنا له تولیدي فابریکې لیدنه وشوه

شریعت: د کانونو او پټرولیم وزارت تخنیکي مرستیال دیپلوم انجنیر وحیدالله حلیمي جوزجان ته د سفر په ترځ کې په شبرغان ښار کې د بیات پاور د برېښنا د تولید له دستګاه څخه لیدنه وکړه.
د کانونو او پټرولیم وزارت تیره ورځ د یو خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د یاد وزارت تخنیکي مرستیال دیپلوم انجینر وحیدالله حلیمي د بیات پاور د برېښنا د تولید له سیستم څخه د کتنې په ترځ کې د اړوندو مسوولینو پیشنهادونه او نظرونه واورېدل او د تخنیکي ستونزو د لرې کولو او د دوامداره برېښنا د تولید په برخه کې یې ورته لازمې لارښوونې وکړې. حلیمي یاد شرکت ته د طبیعي ګاز د رسولو په برخه کې د خپلې ژمنې په اړه د افغان ګاز شرکت رییس ته لازمې لارښوونې وکړې.

## ۱۵ میلیون دالر برای تقویت ارزش پول افغانی امروز لیلام می‌شود

شریعت: د افغانستان بانک، برای تقویت بیشتر ارزش پول افغانی، در نظر دارد که پانزده میلیون دالر دیگر را امروز ( شنبه ۲۶ حمل سال‌روان)، لیلام کند.
بانک مرکزی با نشر ... ص۷

## پکتیا او خوست کې د نویو درسي کتابونو د وېش لړۍ پیل شوه



شریعت: د پکتیا او خوست د پوهنې ریاستونو مسوولین، په دغه ولایاتو کې ښوونځیو ته د نویو کتابونو د وېش بهیر د پیلېدو خبر ورکوي.
د پکتیا پوهنې ریاست مسوولین وایي چې مرکز ګردېز په ګډون لرې پرتو ولسوالیو ته یې د ۴۰۰ زره درسي کتابونو د وېش... ۷مخ

### وزارت زراعت:

## حاصلات عناب در سال گذشته به چهار هزار و ۶۰۰ متریک تن می‌رسد

شریعت: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری از جمع‌آوری چهار هزار و ٦۰۰ متریک تن حاصلات عناب در کشور، خبر می‌دهد.
این وزارت، روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: بر اساس آمارها حاصلات عناب کشور در... ص۷

### داکتر ملاعبدالواسع:

## دفتر ریاست الوزراء با کمیته‌های ریاست تعقیب و نظارت فرامین همکاری می‌نماید

شریعت: داکتر ملا عبدالواسع رییس عمومی دفتر ریاست الوزرا در دیدار با اعضای کمیته‌های تعین شده در چوکات ریاست تعقیب و نظارت فرامین گفت: تلاش‌های شما در راستای شفافیت بیشتر و بهبود کار در ادارات حکومتی، مهم است.
دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرای امارت اسلامی روز گذشته با نشر این خبر گفت: در این دیدار مسوولان این کمیته‌ها در مورد وظایف و صلاحیت‌های ریاست عمومی تعقیب و نظارت از احکام و فرامین روشنی انداخت و در خصوص مسیر کاری... ص۷

## هلمند کې ګڼې پراختیایي پروژې پیلېږي



د لښکرګاه ښاروالۍ مسوولینو په دغه ولایت کې د ۱۷ پراختیایي پروژو د پیلېدو خبر ورکړی دی.
د لښکرګاه ښاروال مولوي عبدالله روحاني د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د دغه ښار په ۸ ناحیو کې د ۲۳۵ میلیونه ۸۱۴ زره ۴۰۹ افغانیو په ... ۷مخ

## لغمان کې د ۱۲.۵ کیلومتره کانال د پاکولو چارې بشپړې شوې

د لغمان د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په الینګار ولسوالۍ کې د ۱۲.۵ کیلومتره کانال د پاکولو او د ۲۶۸ متره د کانال تحکیماتي استنادي دېوال د رغونې... ۷مخ

## د نورستان او سرپل د کانونو ریاست په عوایدو کې زیاتوالی راغلی

شریعت: د سرپل او نورستان د کانونو ریاست چارواکو د خپلو اداراتو د عوایدو د زیاتوالي خبر ورکوي.
د سرپل د کانونو او پټرولیم ریاست ۲۸.۹ میلیونه افغانی عواید راټول کړي دي.
د سرپل د کانونو او پټرولیم رییس عبدالسمیع اسحق زي باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې تېر کال د مستوفیت اداري له خوا ورته ۳ میلیونه ۱۴ زره افغانۍ هدف ورکړل شوی و، خو دوی وکولای توانېدلي، چې له ټاکلي هدف څخه څو برابره زیات عواید راټول او د دولت خزانې ته سپارلي دي.
په همدې حال کې... ۷مخ

## دو چرخبال از سوی انجنیران وزارت دفاع آمادۀ پرواز گردید

شریعت: دو فروند چرخبال از سوی تیم انجنیری قوای هوایی وزارت دفاع ملی ترمیم و آمادۀ پرواز گردید.
دفتر مطبوعاتی وزارت دفاع ملی روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: به ادامه تلاش‌های تیم تخنیکی و مسلکی و انجنیران قوای هوایی دو بال هلیکوپتر نوع ام- ۱۷ روسی و بلک هاک - امریکایی ترمیم و پرواز آزمایشی شان را موفقانه انجام دادند.
مولوی عبدالغفار محمدی قوماندان قوای هوایی ضمن قدردانی از تلاش‌های تیم تخنیکی و انجنیران متعهد به فعال سازی هواپیماهای بیشتر تاکیدکرد.



پول افغانی را با استفادۀ نادرست فرسوده نسازید!